
جونګړه
ناول
Ketabton.com
ایاز الله ترکزے
ایم اے پښتو پېښور یونیورسټی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جونګړه

پښتو ناول

ایاز الله ترکزے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول حقوق د مصنف په حق کښې محفوظ دي

دکتاب نوم..............................جونګړه

ليکونکے.......................اياز الله ترکزے

کمپوزنګ.................حبيب الرحمٰن صافي

ټائيټل ډيزائن.................محمدابراهيم

دچاپ ځاې....................اعراف پرنټرز

محله جنګی پيښور۲۵۸۰۰۰۶

تعداد..............................۵۰۰

بيعه.........................۱۲۰ روپۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انتساب

د پښتو ژبې نامتو شاعراو د چاربیتې

دصنف ښهٔ لیکوال

اروا ښاد استاذ فرید جان بابا

په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

# د ایاز الله ترکزي اَدبي شغف

دَ ښکلي او اعلیٰ کردارنه بغیر کامیاب ژوند تیرول نشي کیدې . پـه ټـوله نړۍ کښې ادب دَ ژوند په هر اړخ باندې خپل کردار ادا کـوي. چه څوک په څۀ نه څۀ طریقه دَ معاشرې او ماحول ښۀ تحفظ غـواړي انشـاء پـردازي کـوي لیکوال ورته وئیل کیږي . دَ ژبې دَ عـالـمانـو پـه نزد چه کوم قام دَ خپل ځان او دَ خپل جهان ښۀ جاج اخستې شي هغه قام ته دَ پرمختګ لارې پرانستې وي .

دَ تـنقید تفهیم او تنقیح په حواله کۀ مونږ تاسو غور اُوکړو نـو دَ تـنـقیـد بـرداشـت کـول نۀ یوائې دا چه غټ کمال دې بلکه دَ شخصیت دَ عظمت نتیجه هُم ده . دَ علم وادب خاوندان دَ خپل فن دَ عظمت په سبب تل ترتله ژوندي او یاد ساتلې شي .

ځـلـمې لیـکـوال ایـاز الله ترکزې دَ چاربیتې دَ فن دَ ماهر لیکوال او دَ خپل عصر لوې اَدیب او اُستاد ارواښاد فریدجان بابا دَ سیـوري تـر څـنګ دَ کچوړۍ په زړۀ راښکونکې سیمه کښې دَ حاجي

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



امان الله کره په ۲ فروري کال ۱۹۷۶ عیسوی کال کښې سترګې غـړولې دي او دَ خپل چاپیریال په رومانوي ماحول کښې دۀ ته هم لـکـه د واصـل خان عاجزؔ دَ ادبي لیک لوست او دَ شعر وادب تړکه لګیدلې ده . ابتدائي تعلیم ئې د خپل کلي سکول ظاهر آباد نه چه دَ اتـم جـماعت امتحان پاس کړو او لسم جماعت ئې دَ ځمکنو دَ ثانوي سکـول ځـخـه په کال ۱۹۹۱ کښې پاس کړیدې . دَولسم جماعت امتحـان ئې دَ ګورنمنټ کالج پېښور نه او دَ پېښور دَ جامعې نه ئې دَ ایم اې پښتو ډګری په کال 2010 ء کښې حاصله کړیده .

ایـاز الله تـرکـزئ دَ ادبي شـغـف په حقله مونږ وئیلې شو چه مـوصـوف پـه ځانګړې توګه پښتو اُردو دواړو ژبو کښې د لیک لوست شـوق دَ جـنـون تـر حده ساتي دَ شعروادب په میدان کښې هغه په نـظـم او نثـر دواړو صـنـفـونـو بانديې کار هم کوی او چه کوم منظوم مـنثور لیکونه یئ زما له نظره ځخه تیر شوی دي ځو منتخب شعرونه یئ دا دي :ع

ختم نہ ہو کبھی دنیا میں محبتوں کا سلسلہ
چاہے جتنا بھی بڑھ جائے نفرتوں کا سلسلہ

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریک رات میں کوئی جلتی چراغ ہے
دیکھا ہے تیرا چہرہ تو دِل باغ باغ ہے

مُنڈلاتی ہے مستی تیرے اردگرد
یہ مست مست انداموں کو کیا سمجھوں

آزاد نہیں ایازؔ ! عشق سے دنیا میں کوئی دِل
کوئی عشق مجازی کوئی عشق حقیقی میں مبتلا

آتی ہے تیری ہونٹوں پہ تبسّم کبھی کبھی
جسے گرتی ہے صبح پھول پہ شبنم کبھی کبھی

دور سے مجھے جلاکر خود بھی جلوگے
اچھا نہیں صنم یوں دور تیرا رہنا

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



چہرہ کتاب سا، ہونٹ ہیں ورق اُسکے
لفظ آنکھیں ،اُسے پڑھنے کو دِل کرتا ہے

دیکھو! ایاؔز اُسے کتنی خوبصورت بنائی گئی ہے
اُس مصور کے آگے جھکنے کو دِل کرتا ہے

میں نے چاہا ہے تجھکو چاہتا ہوں اور چاہتا رہوگا
رب سے مانگا ہے تجھکو، مانگتا ہوں اور مانگتا رہونگا

تجھے چاہنا میرا کام ہے، تو چاہے جو بھی کہے
دِل تجھ پہ آہی گیا ہے تو چاہے جو بھی کہے

دِلوں کے راستے تو آپس میں جڑے ہوتے ہیں
خوامخواہ دل کی بات میرے دل سے نہ چھپانا

جتنی وہ چھیڑ رہی تھی، محبت پروان چڑہتا تھا
ہورہا تھا ایاؔز کو یقین تکرار کرتے کرتے

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغې لیکوال ملګری دَ نثری صنف وړومبې کاوش دَ هغهٔ وړمبی نـاول " جـونـګـړه " دَ موصوف دَ فکری استعداد یوه داسی هـنـداره ده چـه دَ چـاپیـریـال رنـګـونـه ئـی دَ عائِلی ژوند اوضاع راغـونـډوی او دَ ژونـد پـحقله سوچ ئی دَ خاندان جوړولو په اړه دَ هـغـه دَ نـاول کرداړونه کوم دوه کسان چه ئی په نظر کښی ساتلی دی پـه معاشرتی نقطه نګاه سره ښځې خاوند ته اهمیت حاصِل دې او چـه دَ چـا لـه برکته په ټوله نړئ کښی دَ انسانی نسل بقا ده او د دغـې غـرض وغـایـت د پـاره په دنیا کښی خدائې پاک دَ مور پلار غوندې لوې نعمت هم ګرځولې دې .

ایـازالله تـرکـزي ځـلـمې چه دَ جونګړې تر څنګ دَ نثری لیک کـومـه طبع ازمـائی کول غواړی او پښتو ادب کښی دَ ناول نـګـارئ د پاره چه هغه کومه سعی کوشش کوی په ځانګړی توګه ئی ادبی خـدماتو ته په درنه سترګه ګورم . باقی پاتې شو تکنیکی کمې بیشـې نـو ژوند دَ هر اِنسان بهترین استاذ او قیمتی سرمایه ده او هـر کـلـه چه فکر دَ انسان بنیادی ضرورت دې نو دَ وخت تیریدو سـره به دَ موصوف په انشاء پردازئ کښی ضرور ترقی پیدا کیږی

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کـه فـکـرونـه ئی ښهٔ پاتې شی نو يقينی ده چه دَ تخليق په اړه به تأثرات هُم ګټه ور ثابتيږی .
زهٔ د دغـه نـاول پـحقله چه اياز الله ترکزي ئی لوستنکوته وړاندې کـوی دَ خپلو مشرانو په تناظر کښی ئی داسې محسوسوم لکه واحد يـوسفزي چه " دَ نوی ژوند وړومبی سحر " شعری ګنړه ئی چاپ کوله نو ډاکټر محمد همايون هُما صيب په خپل تأثر کښی وئيل چه واحـد لا ځـلـمې دې او دغه ميدان کښی نو وارد دې خو دَ هشنغر ځـځـه دَ غـزل بابا ښاغلی اکرام الله ګران صيب وئيل چه برخوردار کهٔ خپل ارمان تر سره کوی نو دَ چا څه کار دې چه منع ئی کړی او ځـه وايـم چـه ايـاز الله تـرکـزي کهٔ ناول ليکل غواړی نو خامخادې أوليکی خـو هـغه دَ قاعدې خبره چه مونږ کله په اول ادنیٰ کښی دَ خپـل سـکـول په کلاس کښی ناست وُو اُرو اښاد محترم استاذ محمد ظريف خان المعروف به مشر اُستاذ په مترنم انداز کښی چه به ئی درس راکـاوهٔ مونږ هُم په هغه آهنګ کښی داسې به وئيل چه تختئ راواخـلـه خط پرې اُوليکه لږ اُوليکه خو ښهٔ اُوليکه دا به مو زده کول چـونـکـه ناول يو داسې نثری قيصئ وی چه دَ کوم خاص نقطه نظر

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



لانـدې دَ ژونـد حـقيـقي او واقعاتي عکاسي کوي چرته چه مرکزي کردار ته ئې هيرو وائي او دغه هيرو په ذريعه لوستونکي دَ کائنات دَ حـقيقتونومطالعه کولې شي خو دَ دلچسپئ د پاره دَ تخيّل په ښکلا رنګ صـداقـت بيـاني او حقيقت نګاري پکښې دَ ناول خاصهٔ وي نو مونږ اياز الله ترکزی ته څنګه وئيلې شو چه ګڼې هغه دې خپل ادبي شـوق نـه پوره کوي بلکه چه موصوف دغه ناول ليکل غواړي نوبايد چه دَ نـاول تـکـنيکي اړخونه دَ تفريح او مسّرت په رنګ کښې را اونـغـاړي عشـقيـه ، سيـاحتي تـاريخي بلند اخلاقي رنګينئ دې د عـصـري تـقـاضـو مـطابق مربوط کړي او دَ خپل ناول روح يعني پـلاټ ، مـکـالـمـه نـګـاري انسـاني کرهٔ وړهٔ او دَ ماحول ژوندي تـصـويـرونـه چـه په ښهٔ اندازه کړې شي څکه چه ناول دَ خپل دور تـرجـمـان وي او دَ خپل دور دَ تهذيب عکاسي کوي دَ منظر نګارئ پـــه ذريـعـــه دَرزم بـــزم ادلـون بـدلـون او دَ ټـول ژوند ژواک دَ تـصـويـرونـو پـه مرسته مونږ دَ ناول دَ کردارونو دَ مختلفو اړخونو مطالعه کولې شو .

دا نـاول دَ ايـاز الله تـرکزي دَ هغه دَ سوچ او ښهٔ فکر نچوړ

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. ښهٔ ښکلي اوضاع رنګونه ئې دَ لوستونکو د پاره راجوړ کړی دی خپـل دغـه هُـنـر تـه ودهٔ ورکـولـو د پـاره دَ پښتو نور ناولونه بأئِد مطالعه کړی چه دَ یو څو نومونه دا دی . دَ پرویز شیخ تودهٔ بکره ، کـوټه پیسه روپۍ دَ روح پۍ ، دَ برګودر غاړه ، د صاحبزاده محمد ادریـس پیـغله ، د حمزه شینواری نوې چپې او نوې پښتون دَ غلام حبیـب آفـغـانـی میـنـه او فـرض نـور هم ډیر ناولونه شته چه ناول نـګـارانـو د پـاره نـوې لارې پـه ګـوته کوی .خدائې دې اُوکړی چه ایـاز الله تـرکـزې دَ خپـلو ښو صلاحیتونو په برکت دَ ملک وقوم په کار راشی . آمین .

Pukhto.Net
پښتو

**ممتاز حسن ''دولت زی''**

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

## د اَمن پحقله د ایاز الله ترکزئ اَدبی غوښتني او عصری تقاضي

دَ ایـاز الله تـرکـزئ ناول " جونګړه " دَ علامت نګارئ یوه ښـه او سپیڅـلـې نـمـونه ده لیکوال نه صرف پخپل چاپیرچل پخپله سیـمـه بـلـکه په درسته نړئ کښی دَ امن داعی دې دَ ناول مرکزی کردار ساجد دَ یو داسې طبقې نمائندګی کوی . چې هغه په معاشره کښی دَ معاشرې دَ لاسه داسې کارونو ته مجبوره شی . دَ جیل جیلر او دَ پـولیـس نـور آفسران چې هغه ته دَ ښهٔ ژوند تیرولو یادګیرنه کـوی او دَ هـر قـسـم مـرستـې او تـعـاون یقین دهانی ورکوی . په مـاحـول کښی دَ هغه کلاس نمائندګی کوی . چې څوک دَ معاشرې نه دَ منفی سوچونو وجود ختمولو دَ پاره هلې ځلې کوی .

سـاجـد ته چې کله دَ بلقیس مور دا اُووائی " چې دَ بلقیس غـوښتـو دَ پـــاره خپـل مـور پلار راولیږه " دا دَ نـاول Turning point حیثیت لـری . ولې چې نه خو دَ ساجد مور او پلار وی . او

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـه خـو نور خلق هغه دَ دې کار دَ پاره دَ ساجد ضمانت کوي . اوس دا دَ ليکـوال فـنـي مهـارت دې چـې هغه دَ خپل مرکزي کردار دا مشـکل څنګه حل کوي. ولې چې دَ هغه هيرو ته په معاشره کښې دَ حيـانـاک ژونـد تيـرولو دَ پاره دَ بال بچ او دَ ښځې ضرورت دې . سـاجد چې په کوم انداز کښې ځان له خپل مور پلار ، رور ، او خور پيدا کوي دا هم دَ ليکوال تکنيکي مهارت دې .

"جـونـګـړه " دَ مختصر پلاټ ښه ناول دې . پلاټ ئې ښه مـربـوط اوګنډلې دې . ټول کردارونه ئې دَ ژوند دَ څۀ نه څۀ اړخ عـکـاسـي کـوي . کـه دا اُووائـيـلې شي چې څنګه يوه ګلدسته دَ رنګا رنګ ګـلـونـو او پاڼړو ښکلې امتزاج وي دغسې ناول هم دَ مختلفو کـردارونـو يـوه ګلدسته ده . ولې چې دَ ساجد خيل خانه دَ سوات ، مهـمـنـد، مهـاجـر، آفـريدي ، باجوړ دَ افرادو نه جوړه ده او آخري مـنـظـر خـو ئـې ډير زړۀ راښکونکې دې . ولې چې ساجد دَ وادۀ په جوړه کښې دَ جونګړې حفاظت په ډيره بهادرۍ سره کوي .

فضل مالک صاحب

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

## " ښکلي جونګړه "

کلـه چې دَ مخطوط قـلـمي نسخې په ټائټل مې جونګړه ناول دَ ښاغلی ایاز الله ترکزئ صیب صرف په نظر شو نو ډیرډیر خوشحاله شوم. دَ نثر کمې په دَ سائنسی کتب جغرافیه ، میډیکل وغیره پوره شـی . خو ناول دَ ادب هغه صنف دې . چې بغیر ناول ادب نیمګړې دې . دَ نیکمرغې ناول پښتو ادب کښې په زاړهٔ اصطلاحات زمانه قدیم کښې موجود ؤ. چې ستر صاحب دیوان شاعر عبدالقادر خان خټک ځلور سوهٔ کلونه تیر په حماسی اولیکلو . دغه حماسی داستانونه دَ فیاض دَ شهزاده بهرام او ګل اندامې شهزادګئ دَ رومـان ټول خوبې نزاکت عشق ومحبت او سماجی برابری شوشلزم کـلهم محاسن او تقاضې پوره کوی . دَ سماج دَ ارتقاء سره دغه په شعر کښې داستان دَ ۱۸۵۷ ء پسته په انګریزئ کښې ناول پښتو ژبه کښې هم اوپیژندلې شو . دَ وینس شهزاده ترجمه شو . پیغله ، ګل خان ، زرکئ سترګې چهاپ شو. نور ډیر ښکلې ناولونه اولیکلې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـو . خـو دَ خپـلـې نثـري شعبه له رويه اسلوب او ټيکنيک يې هم نوئې شو .

نـاول يـو سيـنـد چې دَ غرونو رغو ميدانونو چينې ورته رالويږي . ګڼې افسانې ډير کردارونه ، مکالمات درلودې . دَ نور محمد ترکي صيب سنګسار دَ بنګ مسافري او سپين غټې کتابونه دي . دَ مکسم ګورکي مور هم غټ کتاب ناول دې . ځکه عالمان اديبان صيبان دَ افسـانـه او ناول په منځ ضخامت نه ناولټ رسمی کړې دې . ظاهر ده چـه دَ افسـانـه پـه مـقـابـل کښـې به کردارونه او مکالمې زياتې درلودې . او دَ ناول نه به لازم ده کم وي .

جونګړه دَ اياز الله ترکزئ ناولټ دې . او ډير ښکلې او دلچسپ دې . مـوضوع ئې هم دومره شړتيدلې نه ده . کميت او کيفيت هم لري . پټ او ښکاره اګاهي دواړه ورکوي . جيل خانه کښې اکثر دَ پريټ پـه ورځ قيـديـان دَ ډوډئ دَ کـمي اود خرابو اُوړو جيلر ته شکايت کوي دَ جونګړې زيور طبع به ئې ښکلا نوره سِوا کړي .

محمد اشرف غمګين هشنغر چارسده

۲۷ فروري ۲۰۱۱ عيسوی

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

بسم الله الرحمٰن الرحیم

# زما د ناول په حقله

نـهٔ پـوهیـږم چـی د نـاول په حقله ځما د لیکلو حس څنګه راڅرونډي شـوې دې نـو چـی څـومـره پام کوم نو هغه ناول چی ما لوستلو او د جـمـلـو څـخه ئی محظوظ کیدم د حمید کاشمیری د اُردو ژبې ناول ”شکست آرزو “ زه هم په لیکلو مجبور کړم .

هسـې ناولونه خو مې ډیر لوستلی دی اُوس هم ئی لولم او د لُوستلو شـوق ئی لرم خو دَ پښتو ژبې نامتو لیکوالې او دَ آدبی حُسن میرمن حسینـه ګُـل ” مـلـکـه “ او سلمیٰ شاهین ”که رنړا شوه “ کوم هغه نـاولـونـه دی چـه دَ مـعاشرې او سماجی شعور عکاسی کاندی د دې ګـران کـار دا جـونـګـړه زما آزمائشی کوشش دې زه د دې پحقله پـخپله یو رائې نشم قائمولې بلکه ګران لوستونکی به د دې په حقله خپـل ګـتـه ور آراء چی راکوی زهٔ یو جهان مننه ورته وایم . بیا هم چـه کـومـو مـلـګرو ما سره د دې کتاب په اهتماماتو کښی مرسته

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـعـاون چـه يئ کړې دې د محترم اُستاذ ښاغلی ممتاز حسن دولت زی او د اُوچتې پـائـې نـاول نـګار ماهر تعليم او ښۀ ليکوال چی په دوآبـه ادبيـات کښـی ئې په وړمبی ځل ناول متعارف کړې دې .د مـحتـرم پرويز شيخ ، ښاغلی سليم راز او دَ هشنغر دَ ادبی خاورې ستـر ليکوال او تذکره نګار محمد اشرف "غمګين " او ښاغلی فضل مـالک ټولو ډيرډيرمننه ادا کووم چې د ناول په ليکلو کښی ئی زۀ د انشـاء پـه مـنشـاء پـوهـه کړم غاړه به می بند وی چی د ارواښاد واصـل خـان عـاجزؔ ، طاهر شاه طاهرؔ او رياض ديوانهؔ نوم وانخلم چې ښۀ قلم کاران دی او چاچی د ادب په دنيا کښی ځما جذبات او اِحساسات د نظم او نثر دواړو صنفونو طرفته راګرځولی دی او نن چـه زۀ د جـونګړې تر عنوان لاندې دا خپل کاوش تخليق مې ما د پاره د وياړ او خوشحالئ باعث دې الله دِ اوکړی چې زما دا کاوش د ژوند او معاشرې د ښيګړې په کار راشی .

په درناوی

خاورې اياز الله ترکزے

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

دَ نـمـر زيـړې طلائي پلوشې دَ سحر دَ هوا په اُوږه سورې دَ خـوشـحـالـئ دَ زيرې سره دَ جيل دَ کړکۍ دَ سيخانو نه وتې ، دَ هغهٔ مـخ ، سـر او سترګـې ئې ښکلولې او هغهٔ له ئې دَ رهائۍ او دَ نوې ژونـد پـه چپـه څُلهٔ مبارکۍ ورکولې . او ولې نه ، هغه واقعي د دې مبـارکـۍ مستحق وو ځکه چې دَ يو کال دَ مسلسل دَ قيدوبند دَ تـکـلـيـفـونـو بـرداشت کولو نه پس هغه دَ خپلو ارمانونو او اميدونو آزادې دنيـا ته روان وو . دا ځوان څوک وو او دَ څهٔ حيثيت خاوند وو ؟ دا زلـمـې دَ ديـرشو کالو يو ښکلې، ښائسته لوړ دنګ ځوان وو چې دَ خدائې په دې دومره لويه دنيا کښې ئې هيڅوک نهٔ وو .

دَ ساجـد زړهٔ دَ خـوشـحـالـۍ نه ټوپونه وهل . دَ هغه په خيال کښې دَ جهـانګير پورې ، قصه خوانۍ او ملحقه بازارونه او محلې تاويدې . دَ هغهٔ په غوږونو کښې دَ دکاندارو آوازونه او دَ هغهٔ په سترګو کښې د دغـه ځايونو تصويرونه وو . هغه خپلو قيديانو ملګرو سره ناست

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو او دَ نـوی ژونـد منصوبې ئې جوړولې چې په دیکښې یو جن کټې راغې او هغه ئی دَ جیل دَ بارک نه بهر کړو .

جـن کټی په ډکه خُله هغه له دَ رهائی مبارکی ورکړه او دې سره ئې دا هـم اووی چـې " صیـب دې غـواړی " . هغه دومره خوشحاله شو چـې دَ خپلو ملګرو نه ئې رخصت او اخنه بخنه هم وانه غشته او هغه سـره روان شو . چی لږ مخکښې لاړو نو دَ جن کټی په وینا دَ سیخانو لـوې ګیـټ ته اودریدو او دَ صیب دَ حکم انتظار ئې کوو ، یوه شیبه پس یو بل جن کټې دَ سیخانو دروازې له راغې او وې وئیل :

" قیدی نمبر ۲۵ . نوم ساجد خان "

جیلر دنوم اخستو سره خپل سَر اُوګرولو ، د جیلر د سر ویختۀ ټول پـه نـوکـرئ کښـی سپیـن شـوی وو. بیـا ئی خپله پوزه اُوګروله او سـرئې اُوچت کړو نو مخې ته ورته قیدی نمبر۲۵ ساجد خان ولاړ وو دې لـوړ ځـوان تـه پـه کتـو بأندې د جیلر د سر نه ټوپۍ روستو طـرفتـه په غورزیدو وه نو ځکه ئې د سر نه لرې کړه او مخې ته ئی په میز بأندې کیښوه.

جیلر: ساجدخانه په جیل کښی دننه ستا ریکارډ ډیر زیات ښه وو هم

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـه شـان تـا لـه پـکـار دي چي د جيل نه بهر هم خپل ريکارډ د ښهٔ ساتلو کوشش اوکړې .

سـاجد: ”سرجي: په جيل کښي چي روتړۍ ثومره په آسانه ملاويږي کـه چيـرې هم دغه انتظام تاسو بهر هم اُوکړئ نو انشاء الله ريکارډ به خامخا ښهٔ وي “

جيـلـر پـه خـندا شو او دۀ ته ئې اُوکتل. خو د جيلر سر ساجد ته په کتـو سـره په بار بار اوچتيدو او خکته کيدو بانديې خوړيدو نو ددې په وجه دۀ ته ئې په کرسۍ کښې د ناستې وينا اُوکړه.

جيـلـر: ” ستا سزا پوره شوې ده څکه تاته د ناستې اجازت درکووم او هغه هم خپل مخامخ ناسته.

ځـمـا خبـره واوره پـه دنيا کښي ټول خلق د روتړۍ په سختۍ سره د ميـلاويـدو شـکـايت کوي . په دې دنيا کښي چي اوسيږې نو ډيرې سختۍ به ستا مخې ته راځي ، روتړۍ په سختۍ سره ميلاويږي خو که سوچ اوکړې نو عزت د دې نه هم ډير په سختۍ سره ملاويږي

ساجد: ”ټيک ده “ سـاجد سر اُوخزولو” چي په خيټه کښي روتړۍ وي نـو د عـزت خيـال بـه اوکړې او چه اوګې وې نو ځۀ خيال به اوکړې ،

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر اوس خو به زۀ په خپلو لاسونو محنت کووم او حلاله روزي به ګټم ، خـو دا یـقیـن به ستا هم وی چه کوم عزت حرام خورو ته میلاویږی هغه حلال خورو ته نه ملاویږی "

جیلر: "خیرتۀ بیا هم خپل پوره کوشش کوه چه دوباره دلته رانشې ، او که په شرافت دِ ژوند تیرولو نو بیا به د شریفانو غوندې دلته نه راځې."

ساجد: "خو سرجی: تاسو خو ټول عمر هم دلته اوسیږئ ."

جیلر ورته په غُصه کښې اُوکتل ، خو ساجد بیا زر اُوئیلې .

"ګوره تاسو غصه کیږئ مۀ ، ما دلته داسې قیدیان هم اُولیدل چې غـل نه وو خو د غلا په الزام کښې نیول شوې وو، او داسې هم ووچې قاتل نه وو خو د چا عزت د بچ کولو په وجه قاتل شو ، خو بیا هم د هغۀ شرافت په خپل ځائې باندې اوس هم دې ، سرجی: ما په خپلو سترګـو باندې لیدلی دی ، چې دلته ستاسو غوندې شریف سړې هم راځـی ، ځکه چې د جیل نه بهر د شرافت څه معیار نشته ، د قانون سترګـه د شـریفانو او خرابو خلقو په پیژندو کښې اکثر ناکامه وی ".

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیلر یکدم پاسیدو او وئې وئیل

"ستاغونډې تعلیم یافته خلقو سره بحث نه شي کیدې ، خو واوره تـهٔ یـو انسـان یئې ، ستا په زړهٔ کښې به ډیر ارمانونه وی ، ستا په سترګـو کښـې به ډیر خوبونه وی ، ولې ته نهٔ غواړې چه یو ښکلې او خائسته ژوند تیر کړې ."

ساجد: "غواړم ، خو زهٔ به په دې معاشره کښې ښه ژوند څنګه تیر کړې شم ؟

څوک خو پکار دی چه ما خوش کړی ، څوک خو چه ما د ژوند ملګرې جوړ کړی ، چه څوک خو ما خپل ضرورت اُوګڼړی او ځما عزت اُوکړی".

جیلر: "که د چا عزت نه وی نو په ښهٔ عملونو بأندې خپل عزت پیدا کوې شی، که تهٔ یوازې اُوسیږې نو ټول خلق به تا ته دشک په سترګه ګوری ، که ځما منې نو یوې حیاناکې جینئ سره وادهٔ اُوکړه ، دا واوره چه کله د یو انسان په دنیا کښې عزت نه کیږی ، نو هغه دِ اول یو وړوکې شان خاندان جوړ کړی اول دِ د هغې نه په وړه پیمانه بأندې د ښځې او بچونه عزت واخلی ، او بیا هم د دې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـانـدان خـلق غټېږي ، او هم دا خاندان په مزه مزه غټېږي ، او هـم د دې سـره تر لرې لرې پورې عزت هم خورېږي ، اوېوه ورځ خـلـق اووائـي چه دومره دلوئې خاندان مشر يو محنتي او مشقت کوونکې ساجد خان وو."

ساجـد: "ډيـر خلق په مونږ کښې د شيخ چلي په شان په خپل سر بـانـدې د آبرو شـکـرئ ايښـې وي او سـوچونه کوي ، چه څنګه به يو ښـکـلـې کـور او لوئې خاندان جوړ کړي ، خو د ژوند يوې لتې سره هـغـه ټـولـې آرئ ماتې شي، او که چيرې زهٔ هم داسې اوکړم نو وايا ځـمـا غـونـدې يـو سزا خـوړونـکې سړی له به څوک خپله لور خور ورکړي ؟"

جيـلـر !" ته خپل کوشش کوه څوک جينئ خوښه کړه ، او رشته ئې اُوغـواړه زهٔ بـه ستـا ضـمـانت اُوکړم چه دا يو شريف سړې جوړ شوې دې ، اصل کښې مونږ غواړو چه د دې جيل نه هر يو قيدي بهرلاړ شـي نـو د شـرافـت ژونـد شروع کړي ، په دې وجه مونږ ستاسو په شان خلقو سره تعاون د پاره تيار يو، او په دې کښې دا شرط دې چې تهٔ به هم مونږ سره پوره تعاون کوې ."

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساجد: "تاسو ځما دومره حوصله زیاتوئ نو زهٔ به ضرور تعاون کووم، او زهٔ تا سره په ټولو ټولو کښې دا وعده کووم چه د خپل برداشت تر آخری حده پورې به د حالاتو مقابله کووم ، که چیرته د یوې جینئ د خندا نه یا د کومې مور د غیرې نه ماله مینه مِلاؤ شوه ، نو هم د دغه مینې په آډه به د عزت ژوند تیرولو طریقې ایزده کووم ."

جیلر د خپلې کُرسئ نه پاسیدو او وې وئیل .

"ډیر ښهٔ ځما ستا نه هم دا اُمید وو، د یو شریف په شان ژوند تیرولو په لار کښې که تاته څه سختئ پیښې شوې، نو ته د خپل علاقې تهانیدار سره مِلاویږه ، زهٔ به نن ستا په نامه یو سفارشی خط هغلته اُولیږم ، دا واخله څهٔ روپئ د عزت ژوند شروع کولو پورې به ستا پکار راشی ."

ساجد د پیسو اخستو نه انکار اُوکړو او وې وئیل .

"سرجی ! ما د روټئ ضرور جړلی دی ، ځکه چه ځما په خواه شاه کښې ما ډیر ژړیدلی خلق لیدلی دی خو زهٔ مجبور نه یم ، زما په خپله محله کښې یو دکان د دهوبی توب شته ، ځما نوکر به اکثر

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـالـه مِـلاويـدو له راتلو، او ما ته به ئې وئيل چې د دکان کار ښهٔ ټيک ټـاک روان دې ، تـهٔ دا پيسـې چـرتـه بـل ضـرورت مند ته ورکړه ."

جيـلر ډير خوشحاله شو او ساجد سره ئې لاس مِلاؤ کړو او ورته ئې ووئيـل زهٔ دا منم چه ته د دننه نه يو ډير ښه انسان يئې ، زهٔ تا په نيـکو اُميـدونـو سـره رخصت کووم، الله دِ ستا حفاظت اُوکړی " د سيخـانو والا دروازه کهولاؤ شوه ، هغه د دروازې نه بهر شو او بيا د جيـل د غـټې دروازې په مينځ کښې وړه دروازه کهولاؤ شوه او بهر راووتـلـو، ساجد چه د جيل نه بهر راووتلو نو کهولاؤ فضاء کښې ئې سـا واخستـه ، او وې وئيـل اې آزادې هَـوا اوس زهٔ هم ستا په شان آزاد يـم ، د څناورو په شان به د جيل په انګنړ کښې بنديدو د پاره بيـا لاړ نشـم، زهٔ خـو يـو انسـان يم او د نورو انسـانانو په شان به د آزادئ ژوند تيرولو حق آخلم ."

د دکـان نـوکـر ئـې د استقبال دپاره راغلې وو ، چه خپل مالک ئې اُوليـدو نـو زر ئـې ورته سلام اُوکړو ، ساجد را نيزدې کړو او غاړهٔ ئـې ورکـړه ، څـکـه چـی په دې غټه دنيا کښې د دهٔ د غاړې والا بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیـڅ څوک نه وو، د جیل نه بهر وتلو سره ئې زړهٔ ټوپونه وهل چې څـوک داسې وی چـه راتـرغاړه ئې باسم او د تنهائی دا ټول بړاس اُوباسم ."

نوکر : " ساجده روره ستاد پاره مې رکشه راوستې ده ، ته ما سره لاړ شه او خپل دکان اُوګوره او پوره د یو کال حساب اُوکړه "

ساجد نوکر په ملا بانډې اُوټپولو او ورته ئې اووئیل خپل حساب ځـان سـره کیـږده ، او کـه څه پیسې دِ راوړی وی نو راکه ، زه نن ورځ او شپه په ټول ښار کښی په آزادئ سره ګرځم ."

نـوکـر د جیب نه څهٔ روپئ راوخکلې او ورته ئې ووئیل باقی د ګټې پیسـې مې پـه بینک کښـی جمع کړی دی ، دواړه په رکشه کښی سـوارهٔ شـول او ړومبـې جهانګیر پورې ته لاړل ، ساجد یو کال پس خپـلـه مـحـلـه لیدل غوښتل .دلته د دهٔ د درې کمرو یو کور وو. د لارې طرفته کمرې نه ئې د دهوبی توب دکان جوړ کړې وو.

ټـکنړه غرمه وه دَ نمر پنجې په زمکه لګیدلې او ښخې شوې وې . په بـازار کښـې دَ خـلـقـو بیـړه کـمه شوې وه دوکاندارانو له هم خوب جُـوتې ورکولې او سترګې ئی مرغئ مرغئ کیدې خو ساجد بانډې دَ

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګـرمئ زورګـری نه چليده ځکه چې دَ هغه دَ زړهٔ په کائنات کښې خـوشـحـالـئ پـه چپـو او دَ سپـرلو وږمې په مستئ او ګډيدو وې. دَ ډيـرې خوشحالئ نه دَ هغهٔ خپه په زمکه نه لګيده . هغهٔ ته ټوله دنيا د ځـان غـونـډې خوشحاله او مخلصه ښکاريده . هغه دا غوښتل چې خپـلـه خوشحالی زړو دوستانو سره شريکه کړی او هغوی ته دَ خپل آئـنـده ژونـد په ښهٔ او صحی طريقه تيرولو يقين دهانی ورکړی . هغهٔ په دې غرض بيل بيل دوست ته ور اوډبووو.....خو څوک هم بهر نهٔ راوتل ، ديو ګاونډی کور والا اُووئيل چه خاوند مې اُودهٔ دې ، يو ورته اُووئيل چه هغه په کور کښې نشته .

ساجـد نـادان سـړې نـه وو ، په هر څه پوهيدو چه د محلې شريف خـلـق د دهٔ نـه ځان ساتی ، په داسې محله او په داسې دنيا کښې به څـنـګه اوسيږې او د چا نه به مينه اُوغواړې ؟ ، څنګه به بيا د ځان د پـاره عـزت اُوغواړې او يا جوړ کړې ، زړهٔ ئې مات شو او نوکر ته ئې اووئيل .

" تـه دُکـان کهولاؤ کړه او کينه ، زهٔ به د شپې ناوخته راځم په مزه مـزه به دې محلې والو ته يقين ورکوم چه ساجد بدمعاش مړ شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ، کـه تـاسو لګه مینه ورکړه نو هغه به هم ستاسو په شان شي او یو شریفانه ژوند به تیروي .“

دا ئـې اُووئیـل او د مـحـلې نه روان شو ، بیا د قصه خوانئ په کوڅو کښـې پیـدل ګـرځیـدو،او د دې کـورونـو او دُکانونو په خواه کښې تیـریدو خلقو ته ئې ډیر په مینه کتل ځکه چې د قصه خوانئ دنیا د دهٔ د وړوکـوالـی نه خپله دنیا وه ، دلته اُوسیدونکی خلق د دهٔ خپل خلق وو ، خو خپل رشته دار ئې نه وو، صرف د قصه خوانئ سره ئې رشتـه تـړلې وه ، ځکه دا چا نهٔ پیژندو ، او دهٔ ټولو ته په مینه مینه کتـل د دهٔ د نظره ډیرې ځائسته جینکئ تیرې شوې ، دجیلر خبره ورتـه رایاد شوه چه ځان له څوک جینئ خوښه کړه ، او بیا ئې خپله نـاوې جـوړه کـړه او د یـو نـوی خاندان ابتداء اُوکړه د دنیا په دې دستـور بـانـدې بـه درته عزت ملاویږی ، خو هغه ښکلې جینئ به څـوک وی چې د دهٔ پـه نـصیـب کښی لیکلې شوې ده ، اکثر به ئې جیـنـکو ته ډیر په مینه مینه کتل ، خو اکثره جینکو به د دهٔ طرفته کتـل هـم نـهٔ . بـعـضې جینکو به ورته خالی یو سر سری نظر سره اُوکتـل او تیـرې به شوې ، لکه چې څوک ملنګ په فټ پاتهـ باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ وی .

دوه جینکۍ د دۀ په خواه کښی تیرې شوې ، یوې خپلې ملګرې ته اُووئیل

" دا څه ځنګلی دې لکه په مودو مودو ئې خپل شکل په شیشه کښی نه دې کتلې "

دۀ چی په خپل مخ بأندې لاس ووهلو نو بیره ئې ډیره غټه شوې وه ، او چی خپلو کپړو ته ئې اُوکتل نو د یو کال زړې جامې وې ، په اصل کښی جیل ته د تلو په وخت د دۀ نه ئې خپلې کپړې اخستې وې او د جیل کپړې ئې ورکړې وې اوس چی د جیل نه واپس راوتلو نو خپلې کپړې ئې واپس ورکړې وې .

زر لاړو او یو نزدې حمأم کښی ئې خپل مخ په آئینه کښی اُوکتلو نو خپل ځان ته ئې غصه راغله ، د دۀ نه د آزادۍ په خوشحالۍ کښی دا هم هیر وو چی خپل ځان اُوګوری چی سړې ښکارم که ځنګلی او آیا ځنګلی سره هم چا مینه کړې ده .

هغه زر زر په منډه خپل دکان ته لاړو ، اول ئې حجامت اوکړو او بیا ئې یو ښکلې سوټ راواخستو او د لمبأنه پس ئې واغوستو نو چی

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه شيشـه کښې ئې اُوکتل نو څان سره ئې اُوئيل اوس د ځنګلی نه انسـان جوړ شوې ، په دې کښې د کور ور اُوهلې شو دۀ چې دروازه کهولاؤ کـړه نـو يـوه غـنـم رنګې جينئ په ور کښې ولاړه وه . او په لاسونو کښې ئې خيرنې کپړې نيولې وې .

ساجد په زړۀ کښې اُووئې .

کـه دا جيـنـئ راته مِلاؤ شوه نو وادۀ به ورسره اُوکړم او د دې ټولې کپړې به هم وينځم .

دۀ تـرينه تپوس وکړو " ته څوک ئې ؟"

"جينئ سترګې اُوړپولې اووې وئيل . تۀ څوک ئې ؟ . او ځما د جانی په دکان کښې څۀ کوې ."

سـاجد ورته اووئې " دا ځما کوردې . او جانې ځما نوکر دې . او ځما په دکان کښې کار کوی ."

جيـنـئ خپـل لاس د ګډا په انداز اُوخوزولو." زرځه د دکان سوټ دې څـۀ اچولې دې چې اُوس د کور مالک هم جوړ شوې . جانی سره ځـما خبـره شـوې ده . هغه به ماسره وادۀ کوی . ما به په دې کور کښې ساتی او روزانه به ځما کپړې وينځی ."

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساجـد خپـل سـر اُوګرولو او جانی ته ئې آواز اُوکړو . هغه په منډا منډا راغې . بيا ئې چې جينئ اُوليده نو جک په جک اُودريدو.

ساجد تـرينه تپوس اُوکړو .

"وايـه کـنـه دا څه حرکتونه دی . ولې تهٔ به د وادهٔ نه پس دا ځما په کور کښې ساتې ؟"

جـانـی پـه رپيدو رپيدو کښې اُووئيل " خفه کيږه مهٔ روره . ما خو داسې سوچ کړې وو چې اُوس خو به تهٔ جيل ته ځې راځې او دا کور بـه خالی پروت وی . نو ما څکه وئيل چې ځما د ښځې او بچو پکار به راشی ."

ساجـد د جانی لاس اُونيولو او يوې کمرې ته ئې راخکلو او ورته ئې اُووئيـل " د يـخوا راشه تا سره يوه ضروری خبره کووم " کمرې ته چـې نـنوتو نو بهرغُولی ته ئې کتل چې چرته هغه جينئ رانشی . خو هـغه هم هغه شان دروازې سره ولاړه وه . او بيا ئې ورته رو شان اُووئې .

" تا دا جينئ څنګه ګيره کړه ؟."

جـانـې پـه خـنـدا شو او وې وئيل ." څه درته اُوئيم رورة .....تر

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسه پورې راته دا پته نه ده لګيدلې چې دا مې ګيره کړې ده او که څـه ئې ګير کړې يم . دا ډيره غريبه جينۍ ده . دې سره د کپړو د ويـنـځلو پيسې نۀ وې . ما ورله بغير پيسو اوينځلې . د هغه ورځې نه دا په ما باندې مهربانه ده . که چرته ګرانی نه وې زياته شوې او د ويـنـځـلـو ريـټ نـه وې اُوچت شوې . نو دې به څما په شان د يو دهوبی په ځائې چرته د شهزادګانو خوبونه ليدل."

سـاجد د کور غُولی طرفته وکتل او په سوچ کښی ډوب شو چې دلته ګـرانـی دومـره زيـاته شوې ده ، چې د کپړو وينځلو د پاره جينکۍ خپل صفا بدنونه پيش کوی ؟

ساجد: "خه وايه کنه :هغه تا له دې کمرې ته راځی ."

"راځـی کـله کپړو وينځلو له راځی او کله هی هی هی .......؟؟ دا د دۀ د شـرميـدو يـو انـداز وو . ساجد ورله په ملا يو ګزار ورکړو او ورتـه ئـې اووئـې څـه شـابـه ښـته . د دې نه پس که هغه د وادۀ نه مخکښې راغله نو د دکان نه به دِ نيغ اُوباسم ."

جـانـې پـه مـنډا دروازې ته لاړلو . او ساجد کمرې کښی شيشې ته اُودريدو او په زړۀ کښی ئې اُوئيل چې .

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زهٔ د يـو صـفا او پاک ژوند د پاره د جيل نه راوتې يم . ماته هغه مينـه نـهٔ ده پکار چې د دهوبې توب په خرابو کپړو کښې پټه وي . زهٔ بـه د خپـل کـوشـش مـطـابق دا ګند وينځم . چرته يوه جينۍ به ګـورم او خپلوم به ئې . چې د غريبۍ او دګرانۍ د وجې نه ماله راشي بـلـکې زهٔ بـه د هـغې د ښځې توب نه متأثره کيږم نو بيا به ورسره ځم. بس هم دا به ځما د خوښې جينۍ وي ."

سـاجد د کور نه بهر راووتلو او د خپلې خوښې جينۍ په تلاش کښې ګـرځيدو . نو ولې د خپلې خوښې جينۍ چرته په لار کښې ملاويدې شـي . دا ډيـر وخـت او صبـر غواړي . بيا که چرته قسمت مهربان شـي او شـوک اچانک ملاؤ شي . په دې دې کښې يوه مياشت تيره شـوله . خو دې د وخت فرهاد ته چرته جينۍ مِلاؤ نه شوه . ځکه چه دې د مـلاوټ پـه بازار کښې خالصه مينه چرته مِلاويږي . د جيل نـه دوه ورځـې پـس د خپـلې علاقې تهانې والا هغه غوښتې وو. چې کـلـه هـغـه هـلتـه اُورسيـدو نو تهانيدار سره د هغه د محلې څلور کسـان ناست وو . تهانيدار چې ساجد اُوليدو نو زر پاسيدو او لاس ئـې ورسـره مِـلاؤ کړو. هغه شريفو کسانو چې دا اُوليدل نو حيران

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول. ځکه چې د قانون یو محافظ د یو سزایافته سړی سره د پخیر راغلی په انداز مِلاویدو . بیا ئې ساجد ته هم د ټولو په شان د کیناستو د پاره کُرسۍ ورکړه . بیا تهانیدار په خپله کُرسۍ کښې کیناستو او وئې وئیل.

" ساجده د جیل نه ستا ریکارډ ماته مِلاؤ شوې دې . په دې ریکارډ کښې د جیلر یو خط هم دې . چې په هغې کښې د ډی. آئی. جی سفارشی دستخط هم شامل دې . لهذا که چرته د نیمې شپې هم درته ځما ضرورت پیښ شی نو انکار به درته نهٔ کووم ."

د ساجد په سترګو کښې د خوشحالۍ اُوښکې راغلې او وې وئیل.

"تهانیدار صاحب! زهٔ به ستا دا احسان چرې هم هیر نهٔ کړم او چرې به درته هم د شکایت موقع درنهٔ کړم . تاسو ته یو درخواست کووم که چرته ځما خلاف څهٔ شکایت راغلو نو ما د صفائی د پاره ضرور راغواړئ."

"بې شکه .ماتهٔ هم ددې د پاره دلته راغوښتې یئې . ستا د محلې دا څلور شریفان ستا خلاف دشکایت د پاره راغلی دی . ما د دوی د ژبې نه ستا نوم آوریدو سره دوئ ته صفا ووئیل تاسو چې د چا

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاف شکایت کوئ. اول به هغه مخامخ راغواړو. اُوس ته راغلې نو ځکه ستا په مخامخ تـرینه تپوس کووم چې د وی ته ستأنه څۀ تکلیف دې ؟."

یوسړی په کرسئ کښې اړخ بدل کړو او په اینختیدو سره ئې ووئیل !" انسپکټرصیب! چې قانون د ساجد حمایت کوی نو بیا ځمونږ څه مجال چې مونږ به څۀ اُووایو."

انسپکټرأووئیل." که د ساجد غلطی وی نو قانون به د دۀ هسې پسې حمایت نۀ کوی . ته چې څه وئیل غواړې بغیر د څه جِجک نه وایه " دوئم شریف سړې په کُرسئ کښې نیغ شو او اُوې وئیل . مونږ شریف خلق یو. زمونږ په کورنو کښې ځوانې ، لوریانې او خویندې دی . مونږ غواړو چې زمونږ په محله کښې داسې یو سړې هم اُونۀ اُوسیږی چې بال بچه داره نه وی .

او د چاچی ریکارډ مخکښې نه خراب وی . د داسې خلقو د لاسه مونږ د شپې په سکون سره چرته اُودۀ کیدو شو ."

" اوجی ." دریم سړی اُوئیل اکثر د غلا وسوسه راسره وی ."

انسپکټر اُووئې . تاسو خلقو ته صرف د دې خبرې یره ده چې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستـاسـو پـه مـحـلـه کښې غلا اُونشی . زهٔ د دې تهانې انچارج يم . اُوس درتـه د دې ځـائـې رجسـټـر کهولاؤوم او درته ئې ښائم چې د يـوکـال پـه مينځ کښې کله چې ساجد په جيل کښې وو نو ستاسو په مـحله کښې څومره غلا ګانې شوې دی . او ډير غلهٔ نيولی شوی هم دی . اوباقی به هم زر اُونيولې شی د ساجد دې غلو سره هيڅ تعلق نشتـه . نو بيا تاسو د ساجد په موجودګئ کښې په سکون سره څنګه نهٔ شئ اُوسيدې ؟."

د لګ سـاعت د پاره خاموشی شوه . کيدې شی دغه خلقو څهٔ جواب د پاره سوچ کولو. انسپکټر اُووئيل.

"مـونـږ پـوليس والا د غلو او بد معاشانو يو اصول ډير ښه پيژنو او منو ئې هم چې چرته يو غل يا بد معاش په خپله محله کښې نهٔ غلا کـوی او نـهٔ بـدمـعـاشی کوی . يو شريف سړې د بل شريف سړی د جيـب نه خو څهٔ پټولې شی. خو يو غل د بل غل جيب کله هم نه وهی ، د بدمعاشئ په زړهٔ کښې هم ډيره لګه ايمانداری ضروری وی ."

سـاجد اُووئيل"سرجی .زهٔ تقريبًا د دې ښار ټول غلهٔ او بدمعاشان پيـژنـم. زهٔ دې شريفو خلقو ته يقين ورکووم چې ځما په موجودګئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې په يو بدمعاش هم زمونږ محلې ته رانشي "
چـا پـه جواب کښې هيڅ هم اونۀ وئيل . ځکه چې هغوی د ساجد په خبرو باندې يقين نه کولو.
انسپکټر د دوئ نه تپوس اُوکړو
" آيـا تـاسـو کښـې د کـوم يـو لـور خور ته دا شکايت شته چې ساجد هغوی ته په غلط نظر سره ګوری ؟
يو شريف سړی د کُرسۍ په بازو باندې لاس کيښودو او وئې وئيل
" دچـا مـجـال دې چې زمـونـږ لوريانو خويندو ته به په غلط نظر اُوګوری. مونږ به د هغه ژوند ګډوډ کړو."
انسپکټر اُووئيل ." چې ستاسوپه ځان دومره اعتماد دې نو دلته د څـۀ خبـرې شـکايت کولو له راغلی وئ ؟ .که يو کس ستاسو په شان شـريفانه ژوند تيرول غواړی که تاسو د هغه ډاډګيرنه نۀ شئ کولې نـو داسـې مـجـرمـان به د قانون په ذريعه تر کومه په صحيح لاره راوستـلـې شـی؟ زۀ تـاسـو تـه يو درخواست کووم چې تاسو د خپلې همدردئ او مينې سره او په روغ نيت سره ساجد ته د يو ښۀ ژوند تيرولو موقع ورکړئ ".

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کله مونږ ټول په جمع د دهٔ عزت شروع کړو نو دا به هم دغه عزت ساتـلو د پاره کوشش کوی چې مونږ ته د دهٔ د طرفنه څه شکایت مِلاؤ نهٔ شی."

انسپکـټـر د ډیـر وخـت نـه دوئ پوهه کول او دوی په آو سره د آو وئیـلـو د پاره مجبورًا سرونه خوزول . بیا دوئ ټولو د ساجد سره د تـعـاون کـولـو وعده اُوکړه او د هغه ځائې نه لاړل د دوئ د تلو نه پس ساجد ته انسپکټر اُوئیل.

" پـه دې دنیـا کښې ځان د پاره یو ښه ځائې جوړول ډیر سخت کار دې. زمونږ خلق هم څهٔ عجیبه دی . څوک چې په غورزیدو اُووینی نو زړهٔ خوږتیا ورسره کوی او چې څوک په ترقئ اُووینی نو د حسد د وجې ئې شکایتونه کوی . تاڅهٔ سوچ کړې دې چې په داسې ماحول کښې به د ځان د پاره څنګه ځائې پیدا کړې ؟."

"مـالـه جیلر مشوره راکړې وه که چیرې زهٔ یوازې اُوسیږم نو ټول بـه مـاتـه بـد عمله او بد معاش وائی . نو ځکه ماله چیرته یو جینئ سره وادهٔ کول دی او د یو ښهٔ کور په شکل اُوسیدل دی .ځکه چې د ښـځـې او بـچو نه او د یو ښهٔ کور نه بغیرپه دې معاشره کښې عزت

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړېدې نشی .“

انسپکټر په هو سره سر اُوخوزولو.“ ډېره ښهٔ مشوره ده . تاٌ له زر تر زره په دې باندې عمل کول پکار دی .“

”خـو څـوک به ماله لور راکړی ؟ زهٔ نهٔ غواړم چې څوک د غريبۍ نه مجبوره وی او ما بدمعاش ګنړی او بيا هم ما سره خپله لور ، خور اُوتـړی . زهٔ د نـورو د مـجبورۍ نه فائده اخستلو سره خپل کورنه جـوړومـه . زهٔ په دې تلاش کښې يم چې څوک ما په مينه ځان ته غاړې باسی .“

دې وئيـلـو سره هغه د تلو د پاره اُودرېدو. انسپکټر ورسره د تلو لاس مِلاؤ کړو او وئې وئيل

”ځـمـا نيک اُميـدونـه تا سره دی تاته به ضرور چرته د يوې نيکې جينۍ رشته مِلاويږی.“

د دې نه پس ساجد د مينې په تلاش پسې اُووتلو . خو دا په ظاهره مـفـت مِـلاويدو والا څيز دنيا کښې ډېر په ګرانۍ سره مِلاويږی . څکه نو دې پسې سرګردانه ګرځيدل وی .

ساجد دَ خپل ژوند دَ ملګرې په تلاش کښې سر وهلې ، بر وهلې ،

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـځ پـه لځ ګرځیدلو . په بازار ، په لاره ، په پارکونو او چوکونو کښې ئـې ډیـرې دَ نظره تیرې شوې . په ډیروې سترګې خوږې شوې . دَ ډیـرو پـه وړموې زړهٔ ګل وګلزار او ذهن باغ وبهار شو خو یوې هم چـرې پـه خـطـا هـغه ته او نهٔ کتل . یوه هم دَ هغهٔ دَ نیمګړی ژوند درمان جوړ نشوه . هغه لکه دَ شوکیدلی او پریوتلی ګل دَ هرې ګل انـدامې دَ خپو لاندې پائړې پائړې او ریزه ریزه شو خو چا هم هغه اوچـت نـه کړو او چا هم دَ زلفو په ول کښې ځائې ورنکړو ،د هغهٔ دَ زړهٔ پـه پړده به دغه ټولې حسینې او مه جبینې تلې راتلې او رو رو په وتلې .

کـلـه کـله خو به دَ هغهٔ دَ دنیا دَ خلقو نه ؤ بالخصوص دَ صنفِ نازک نـه دَ بې رخۍ په وجه کرکه او نفرت پیدا شو . هغه ته داسې معلوم شـوه چـې هغه چرته دَ بلې دنیا نه راغلې دې او دې دنیا او دې ښار کښـې بـالـکـل اجـنبـی دې . هـغـه ته دَ ژوند دَ یوې داسې ملګرې ضـرورت وو چـې دَ هـغه دَ ژوند تعمیر اوکړی چې دَ خلقو په نظر کښې هغه دَ سرپټوب او عزت مقام حاصل کړی .

یـوه میـاشـت پـس دهٔ په آرمی سټیډیم کښې یوه جینۍ اُولیدله . که

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـرتــه صـرف دۀ ورته کتلې وې نو څه خبره نۀ وه . دا به د همیشه پـه شـان کتـلو سره دجینۍ په خواه کښې په مایوسۍ سره تیر شوې وو. خـو پـه اصل کښې دې جینۍ هم دۀ ته کتلی وو. د یو ځل کتلو نه پس په دوئم ځل هم کتلی وو.

او چې کـلـه ئې په دریم ځل اُوکتل نو د غورځیدو په انداز په چمن کښې کیناستو .

دۀ ته خو تر نن پورې چانۀ وو کتلی ، ډیره موده پس د دۀ د زړۀ د کور په ور باندې چاټک ټک کړی وو. او هغه هم درې ځله .نودۀ د زړۀ دروازه کهولاو کـړه او په چمن کښې کیناستو . هغه لږه لرې د نهر په غاړه په بینچ باندې خپلو ملګرو سره ناسته وه .

ساجد د یو شاعرپه شان د هغې د حُسن تجزیه نۀ شوه کولې . بس د دۀ د پـاره دومـره کتل هم کافي وو چې جینۍ ډیره ښکلې ده او دۀ ته ئې درې ځل کتلی دی . د دریو عدد ډیر ښه وی . الله درې ځل تـوبـه قبـلـوی هـم دا د کال په دریمه میاشت په دریم تاریخ پیدا شوې وو. د دۀ د کور کمرې درې دی . او درې ځل جیل ته هم تلې وو. پـه نـکاح کښې به درې ځل قبلول وی . او دې جینۍ درې ځل

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهٔ ته کتلی وو.

لــږ وخـت پس هغه جینۍ د خپل ملګرو سره پاسیده او ریسټورنټ تـه لاړل. سـاجد هم دوی پسې لاړلو. او بیا هلته یوخالی میز ته په کُـرسـۍ کښې کیناستود دهٔ نه لږه لرې په میز باندې هغه ناسته وه او دهٔ تـه ئـې کتـل بیرا هغوی ته یخ بوتل په میز باندې کیښودو . دهٔ هم بیره ته د هغې په شان د بوتل آرډرورکړو. چې کله بوتل دهٔ لـه رالـو نو دهٔ اُوکتل چې جینۍ شربت په یو ګلاس کښې اچولو . دهٔ هـم خپل شربت په یو ګلاس کښې اچول شروع کړل . جینۍ ګلاس اُوچت کړو او یو وړوکې شان ګوټ ئې ترینه اُوکړو او بیا ئې ګلاس پـه میز باندې کیښودو.دهٔ هم دغه شان اوکړل .جینۍ چې د دهٔ دا حـرکـت اُولیدو نو خپله لوپټه ئې څمول شروع کړل . نودهٔ هم خپل کالر ټیک کول شروع کړل .

څـه وختـه پـورې دا سـلسـلـه شـروع وه . هغې به چې څکلو د پاره ګـلاس اُوچـت کـړو نـو ساجد به هم خپل ګلاس اُوچت کړو. یوځل جینـۍ تـه اچـانک انتـروشـې راغلو. د آں آں.....کولو سره ئې د انتـروشـی د پـاره خُـلهٔ کهولاؤ کړه .نو د ساجد خلهٔ هم کهولاؤ شوه

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



.جینئ انترو‌شې اصلي وو او د ساجد نقلي وو. خو دواړو ته د انتروشی نه داسې د یکې ملاؤ شوې چې د دواړو د لاسونو نه ګلاسونه پریوتل . د ریسټورنټ بیراګان او نورو خلقو دوئ ته په حیرانتیا سره اُوکتل .

ځکه چې دواړو ته د انتروشی حادثه په یو وخت راغلې وه . چې بیرا د دواړو میزونه صفا کړل او لاړلو نو د جینئ خوا کښې ذ جینئ ذ ډلې نه یوه میډم پاڅیده .ذ ساجد خوا کښې په یوه کرسئ کیناسته ، مسکئ شوه او په رازدارانه انداز‌ې اُووې .

"ځوانه ! د عشق په اول کښې داسې ز‌کام اکثر کیږی او انتروشی راځی. زهٔ د ډیر وخت نه دا تماشه ګورم . زهٔ ذ یوې خبرې ښځه یم زر زر ځما د سوالونو جوابونه راکوه .

" آیا تا وادهٔ کړې دې ؟"

" نهٔ جی ما لا وادهٔ نهٔ دې کړې ."

" د کرایه په کور کښې اُوسیږې که خپل کور دِ دې ؟".

"جی . په خپل کور کښې ".

"نوکری کوې او که کاروبار ؟"

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



" د دهـوبي توب کاروبار کوم په جهانګیرپوره کښې مې خپل دکان دې د دهوبي توب "

ستـا مـور پلار ، قوم قبیله یا رشته دار ؟ زما مطلب دې زهٔ هغوئ سره لیدل غواړم .

" په دې دنیا کښې څما هیڅوک نشته "

" نو بیا به دې جینئ سره وادهٔ څنګه کوې ؟ څوک خو ستا مشر پکار دې . ستـا پـه خپـلو کښې ستا د ضمانت والا څوک خو به وی چی دا ثابته شی چی ته یو نیک او ښهٔ کردار والا هلک یې . "

سـاجد ډیر په فخر سره اُووئیل . "جی څما د علاقې تهانیدار به څما ضمانت درکوی . "

"څهٔ څهٔ.....څهٔ مطلب؟. میېرم کرسئ زر روستو طرفته کړه .

"پـه تهانه کښی خو د غلو او بدمعاشانو ضمانت کیږی. آیا....آیا تهٔ هم....؟

"جی هو. خو زهٔ اُوس یو شریف سړې جوړ شوې یم . د سنټرل جیل جیلـر صیـب . د پـولیـس ډی .آئـی .جـی صیب ، او څما د علاقې تهـانیـدار صیـب به دا ګواهی ورکوی چی زهٔ د شرافت ژوند تیروم

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



".

" دا ته چې د څومره افسرانو حواله راکوې . د دۀ تعلق خو د غلواو بدمعاشانو سره دی . ته ضرور سزایافته یې هم د دې وجې نه دِ دوئ سره پېژندګلی شوې ده . ولې چې یو شریف سړې د داسې افسرانو ضمانت نۀ مخکښې کوی . "

"ګوره میډم تا له پکار دی چې ما سره نیکی اُوکړې . زۀ لکه ستاسو دَ خاندان یوې شریفې جینۍ سره وادۀ کول غواړم ."

"یره ځا. نو د دې جینۍ څه جُرم دې چې زۀ ئې تا سره وادۀ اُوکړم او بې عزته ئې کړم . . . بس یاد لره ادې نه پس د دې جینۍ ذکر په ژبه رانۀ ولې . د دې طرف ته په اُوچتو سترګو هم اُونۀ ګورې .اونۀ د دې پسې روستو راروان شې . ګنې زۀ به په تهانه کښې ستا خلاف شکایت درج کړم ."

دې دهمکۍ ورکولو سره میډم خپلې ډلې له لاړله. او خپل بِل ئې ورکړو. او بیا ئې دغه جینۍ او نورټول را روان کړل او دۀ ته ې په غُصه غُصه کتل .بس دومره دهمکی کافی وه په تهانه کښې به ستا خلاف رپورټ اُورسی اوس دۀ دې جینۍ پسې تلو سره خپل

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریـکـارډ خـرابول نه غوښتل ....هائې ښکلې جینۍ چې دۀ ته ئې په مینـه مینه کتل . په نفرت سره ئې ترینه واخسته په ژوند کښې ئـې چې څوک په ړومبی ځل خوښ کړی وو د هغې د پیلیدو نه پس ئـې دا تـجـربـه اُوشـوه .چـې صـرف پـه عشقیه انداز کښې سترګې جنګولو سره جینۍ نه مِلاویږی .

که د قانون محافظ ئې ضمانت اُوکړی بیا ئې هم د هغه ښکلې جینۍ لاس په لاسونو کښې نه راتلو. ځکه چې د جینۍ والا د هلک تر اُوسه پـورې چـال چـلـن تـه ګـوری . او که چیرته سزایافته وی نو بیا خو څوک چرته یقین کوی. یا یقین ورکولې شی چې د وادۀ نه پس به د دې هـلـک چـال چلن ټیک شی . صحی خبره دۀ چې ټولو جینکو والا تـعـلیـم یافته او ګټې والا خلق خوښوی او په سزا یافته بأندې لاړې هم نه ټُوکی.

هغه تر څو ورځو پورې د هغه جینۍ په سوچونو کښې پروت وو. بیا څـو ځـلـه هـغـه پـارک تـه لاړلـو. چـې د لرې نه په پټه ئې یو نظر اُوګوری . نو دې کړیدلی زړۀ ته خو به لګ غوندې قرار مِلاؤ شی . نو بیا هغه په نظر رانغله کیدې شی د دې مور پلار هلته تلل د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجې نه پرېښودل چې اوس دې پارک ته يو سزايافته راځي .
دۀ آخـر په رو رو خپل زړۀ پوئې کړو چه هغه جينۍ مړه شوې ده .
د دې په وجه په نظر نه راځي . په مړې بانديې ټول عمر ژړا کول د
هوښيار توب خبره نه ده .

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆

☆☆☆

Pukhto.Net
پښتو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

ځـۀ درې میـاشتـې پـس بیـا یـوه جینۍ مِلاؤ شوه او بالکل په رښتیا مِـلاؤ شـوه . ځـکـه چـه پـه ښـارکښې هنګامې وې. پولیس په خلقو بـانـدې لاټهی چارج کولو او هغه په یو منډا راخوشې وه او دۀ سره اُوجنګیده او په یره کښې ئې اُوئیل

" مـم........ما بچ کړه ما په ځۀ تحریک کښې حِصه نه ده اخستې دا پولیس والا به ما اُونیسی او تهانې ته به مې بوځی ما بچ که ما بچ که."

دۀ د هـغې لاس اُونیو او یوې کوټې ته ئې راخکله . د لاس نیولو نه پـس دۀ تـه احسـاس اُوشـو چـی دا څـومره نازکه ده . ددۀ نه ټولې هـنګامې هیرې شوې ځکه چی د هغې د بدن خائست تباهی کوله .

دۀ هـغـه د یـوې کـوټې نه بلې ته او د بلې نه بیا بلې ته بوتلو بوتلو کښـی د هـغـې د مـخ د خـائست په تماشه وو. لکه د سمندر چپو په شـان هـغـه د دۀ په یو لاس کښی آوړیده راوړیده د دۀ نه د آرمی ستیـډم والا جینۍ بالکل هیره شوې وه. ځکه چی دۀ سره د تلو والا

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



جینئ سره محبت لکه د پټرولو د اُور په شان یودم لګیدلې وو.
دهٔ په زړهٔ زړهٔ کښې پولیس والا ته دعاګانې کولې . ځکه چې د دوئ د لاټهی چارج په وجه دهٔ ته دومره ښکلې جینئ مِلاؤشوه .
ځـلـورمـې کـوټې ته رسیدو سره د یو کور دروازې سره اُودریدل جینئ د سترګې والی نه په تیزه تیزه سا اخستلو کښې اُوئیل .
" ستـا ډیره ډیره مننه ځما کور راورسیدو.تهٔ ډیر ښه انسان ئې تا ځما مدد اُوکړو اوزهٔ دِ بچ کړم زهٔ به ستا دا احسان هیچرې هم هیر نه کړم."
ساجد په زړهٔ کښې اُووئیل چې په څه خبره لګ اُودریدل پکار دی د سوچ سره دهٔ اچانک اُووئې .
" پـه دې کښـې د احســان څـه خبـره ده تـهٔ دومره ښه یئې چې زهٔ ستـاد پـاره د سـر بـازی هـم لګووم .....که دِ خوښه وی نو امتحان واخله ."
جینئ په حیرانتیا سره سر اُوچت کړو خو چې ساجد سره ئې سترګې مِلاؤ شوې نو زر ئې خکته کړې . د هغې د انګو شرمیدلې سوروالی دا ښکاره کوله چې چیرته په ژوند کښې په ړومبی ځل څوک د دې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پـاره د سربازۍ لګوی . هغه چُپ شوه او خپل کور کښې په برنډه کښـې روانه شوه. د هغې د رو رو او اُودریدو والا تګ نه پته لګیده چې تلل ئې زړۀ نه غواړی .

ساجد ځان سره په سوچ کښې شو.

" تـه خـو خپـل کـور تـه راورسیدې . اُوس بـه الله خبر زۀ چرتـه کـړیـږم. بـار هـنـګـامې دی کیدې شی چې بیا د پولیس ډانګو سره مخامخ شم ."

جیـنـئ ته اچانک د خپلې غلطئ احساس اُوشو چې اُوس هغه کس چه زۀ ئـی راورسولم او دې په هنګامو کښې سر وهلې پریږدم . نو زر ئې اُوئیلې.

" تۀ لګ اُودریږه ځه زر راځم "

دې وئیـلـو سـره هغه کور ته لاړه برنډه خالی پاتې شوه خو جینئ د ساجد په سترګو کښې پرته وه . دۀ په ولاړه ولاړه دُعا اُوغوښته .

"یـاالله کیشتـئ مې تیره کړې تۀ ځما روغ نیت پیژنې زۀ دا جینئ خپـل عـزت جـوړه ووم او پـه دې مـعـاشره کښې ځان له د عزت یوځائې جوړه ووم

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوم کور کښې چې د ښځې اوبچو مینه وي خلق هم هغه کور ته د عزت په نظر ګوري . جیلر صیب ډیره ښه مشوره راکړې وه . زهٔ به په دومره غټه دنیا کښې ځان له یو وړوکې غونډې کور جوړه ووم .“

د دُعـا غوښتلو په مینځ کښې یوې بوډۍ ښځې د کور دروازه کهولاؤ کړه او دهٔ ته ئې اووئې .

”ځـو یـه دغـلته ولې ولاړ یئې . دننه راځه بارچې هنګامې ختمې شی نو بیا به لاړ شې .“

ساجـد بـوډۍ تـه سلام کـولـو سره دننه ننوتو بیا د بوډۍ په اشاره بـانـدې دنـنـه لاړلو . ساجد چې په کومه کمره کښې کیناستو هغه د قیـمتـی فرنیچر او نور د ډیرو ځیزونو نه ډکه وه . دکمرې حالت نه پتـه لـګیـده چې د دوی مالی حالت ډیر ښهٔ دې . دا په صوفه کښې کیناستو او هغه ښځه په بله صوفه کښې کیناسته . او وئې وئیل .

”ځـویـه تـه اچانک لکه د فرشتې راغلې . ګنې نو په دومره هنګامو کښـې بـه بـلـقیـس ډیـره زخمی شوې وه . او کیدې شوه چې نیولې شوې هـم وې . ما دې ته وئیلی هم وو چې مُلکی حالات صحیح نه

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی بهر ته مۀ ځا خو دا د نن سبا جینکۍ زمونږ آوری کله ."

ساجد اُووئې ."اُوس به ستا لور ستا خبره ضرور منی ځکه چی په دې هنګامو کښی دا ډیره یریدلې ده . "

"ګو د درځ خوړلو نه پس عقل راځی په دې دنیا کښی عجیبه عجیبه تماشې کیږی ځما غونډې ژوند وهلې ښځې هم یو ځل د لور په باره کښی درځ خوړلې وو. "

"څا هغه څنګه ؟"

"څه به درته وئیم ځویه .....دوکاله مخکښې ما د بلقیس د پاره یو هلک خوښ کړې وو بلقیس ځما صرف هم یوه لور ده . زمونږ نه پس دا هر څه د دې دی . د دې د پلار دا خوښه وه چه زووم دې مونږ سره ځمونږ په کور کښی اُوسیږی د دۀ د خوښې مطابق هلک هم رضاشو."

د ساجد زړۀ په ډوبیدو شو. او په زړۀ کښی ئې اُوئیل چی بلقیس د مِلاویدو نه مخکښې پردئ کیږی . نو زر ئې تپوس اُوکړو .

"ولې د هلک مور پلار هم راضی شوی وو څۀ ؟ "

د هغۀ مور پلار مړۀ شوی وو د هغه نور رشته دار هم نۀ وو مونږ

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوچ اوکړو چې يوازې هلک دې که د زووم په شکل کورته راشي نو مونږ به ورله هم د ځوئې مينه ورکړو . نو ځکه مونږ د بلقيس وادهٔ د هغه هلک سره اُوکړو . "

ساجد په مايوسئ سره اُوئيل ."دبلقيس وادهٔ شوې دې څه ؟.

" بس صرف د نوم وادهٔ شوې وو ځويه ......هغه خو د وادهٔ په شپه ځـمـا د لـور کـمـرې ته راغلو ځما لور ته څهٔ پته وه چې د دهٔ په زړهٔ کښې څهٔ دي . هغه بلقيس ته اُووئې چې زلمې په خپل لاس د ناوې کالې کوزئ .

هـغه د کالوکوزولو رواج پوره کړو . په مخ ښودنه کښې چې څومره پيسې جمع شوې وې . هغه ټولې پيسې او ټول کالې ئې راغونډ کړل او پـه کـهـړکـئ باندې اوتـښـتيدو. بلقيس بدنصيبه په بنارسئ کښې پـټ مـخ نـاستـه وه د سهـار آذان پورې ئې انتظار اوکړو چې د دهٔ زلـمـې به بيا راشي او د دې بنارسئ به اُوچته کړي او دا به اُوګوري . سهـارچـې مـا د کـمرې ور اُووهلو نو د دې هوش په ځائې شو خو تـر هـغـه پـورې هر څهٔ تالا شوي وو. د الله ډير شکر دې چې ځما د لور عزت روغ پاتې شو."

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساجـد سـر ګرولو او په سوچ کښې وو. او د سوچ خبره هم وه ځکه چې دا هـم په دې دنيا کښې يوازې دې .او د دې نه مخکښې د دې دنيـا يـو يوازې کس د بلقيس مور پلار سره ډيره غټه دهوکه کړې وه. ښـځې وئيل" د الله په فضل سره مونږ سره د پيسو کمې نشته دې او مـونـږ تـه پـه دې هـم افسوس نشته چې مونږ په چا بهروسه اُوکـړه هـغـه دهـوکـه باز اُوختلو . خو بلقيس څهٔ وخته پورې پاګله غـونـدې وه . د دې زړهٔ تـه ډيـر غټ خفګان رسيدلې وو . يو کال پـس مـونـږ يـو لوئې عالم نه تپوس اوکړو او د بلقيس ټول حال مو ورتـه اُووئـې . نـو عـالم اُووئې چې د نکاح نه پس سړې د خاوند په ځـائـې لـکه د غل راشي او د خپلې نکاح شوې ښځې مخ قدرې اُونهٔ ګـورى . او بيـا يـو کـال پـورې ئې د نان نفقې ذمه داري قبوله نه کـړي نو په داسې حالت کښې طلاق اُوشي . تاسو د بلقيس وادهٔ بل ځائې کښې کولې شئ .....

اې ځـويـه زهٔ خـو هـم داسې په خبرو يم تاته مې د يوې پيالئ چائيو څټ هم اُونهٔ کړو کينه زهٔ زر راځم."

ښـځه د چائيو د پاره لاړله نو ساجد ته دسوچ موقعه مِلاؤ شوه . بيا

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیـا به ئې د بلقیس مخ په سترګو کښې ګرځېده . هغهٔ سوچ کولو چې یـو کـس دومـره ښکلې او ساده یاده جینئ خپله ناوې جوړه کړې او بیـائـې د بـنـارسـئ اُوچتیدو نه اُوړاندې بغیر کتو لګ غوندې کالې اُوتـښـتـوی . د داسـې کـس نـه به بل شودۀ او بې وقوفه څوک هم نه وی . کـه چیـرې هـغـهٔ د بـلـقیس سره خپل ژوند تیر کړې وې نو ورتـه بـه یـو ښکلې ښځه هم ملاؤ وه او د عزت ژوند به ئې هم تیر کړې وو کوم خلق چې عزت هیڅ نهٔ ګڼړی هم هغه خلق لګه غوندې غلا یاندې خوشحاله وی .

کاش چې بلقیس ماته مِلاؤ شی دا د مالدارو مور پلار یوه لور ده . خـوځما د دولت لالچ نه دې صرف بلقیس ځما ضرورت دې . یاالله ماله د بلقیس سره د عزت ژوند تیرولو موقع راکړې .

لګ وخـت پـس بـلـقیـس پـه ټـرې کښې چائې راوړلې او د ساجد مـخـامـخ صوفه کښې کیناسته او چائې ئې په پیاله کښې اچولې . په دې وخـت کښـې سـاجد ته د بلقیس د دیدن پوره موقع مِلاؤ شوه .ډیـر زړهٔ راښـکـونـکـې مـخ ئې وو. د چائیوپیالئ په ځائې مې زړه غـوښـتـل چې په لاسونو کښې د دې د حیاء نه ډک مخ اُونیسم . خو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیـا ئې پیالۍ اُوچته کړه د چائیو ګوټ دوران ئې د هغې د مُسکا نه ډک مخ ته اُوکتل او بیا ئې په زړهٔ کښې اُوئیل .

" چـائـې د یو ې پیغلې د شونډو په شان دی . چې پکښې ګرمی هم وی او خوږوالې هم ."

خو هغه ګرمی او خوږوالې زر پاسیدو او لاړله ځکه چې مورئې راغله او د بلقیس په ځائې کیناسته او وئې وئیل .

"ځویه تهٔ چرته اُوسیږې ؟"

سـاجـد ورتـه اُوئې چې په جهانګیرپوره کښې مې د درې کمرو خپل کور دې . او هم په دغه ځائې کښې مې د دهوبی توب دکان کهولاؤ کړې دې .

ښځې اُووئیل .

" آیا ستا مور پلار تا سره اُوسیږی ؟"

"جـی .......جی آو." د ساجد د خُلې نه یوه دروغ خبره اُووته . د دې نـه مـخـکښې د دهٔ په دماغو کښی د دې دا خبره نه وه راغلې . خـو د وخـت په تقاضه د دهٔ نه خود بخود دروغ اُوئیل شو. او کیدې شـی چـی دهٔ خپل ځان یوازې ښودو سره د بلقیس او د مور په نظر

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې ځان شکمن نه کولو .

" په کور کښې دِ نور څوک دی .؟"

زړهٔ ئې نورو دروغو ته جوړ شو چې صرف د مور پلار په وجه کار نه کیږی د خلقو خو رونړه خویندې هم وی ."

"یوه خور او یو رور دې ."

" او ښځه بچی ؟ "

" جی ځما تر اُوسه وادهٔ نه دې شوې ."

"خامخا" ښځه غلې شوه او سرخوزول ئې شروع کړل

"چرته د رشتې خبره خو به روانه وی ."

"نه جی .چرته چې مې جینئ خوښه شی د دې د وجې رشته نه غواړم چې چرته انکار اُونهٔ کړی ."

" اې ځـویه دا څنګه خبرې کوې . جینئ والا خو په یوه خپه ولاړ وی چې چیـرتـه څوک راشی رشته اُوغواړی او دا بوجهـ زر تر زره کوز شی ."

سـاجد په اینښتیدو انداز کښې اُوئیلې ." ګوره ستا خبرو سره ځما حوصله زیاتیږی .ز.....زهٔ ستا د لور رشته غوښتې شم .؟"

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې په خندا سره اُووئې . " اې ځويه تۀ خو ډير تيز يئې تاله داسې خبرې نۀ دي کول پکار . تۀ د دستور مطابق خپل مور پلار راوليږه . زۀ به هغوئ سره مِلاو شم . څۀ سوچ به کووم څۀ ځان به پوهه ووم بيا به جواب درکووم ."

د ساجد خُلۀ اُونښته . د بلقيس حاصلولو د پاره اُوس دۀ خپل مړۀ مور پلار څنګه ژوندي کولې شوو؟ د دروغو په وخت دۀ دومره لرې سوچ نه وو کړې چې د رشتې خبره چيړې نو اول به مور پلار پيدا کړې .

ښځې ترينه تپوس اوکړو .

"تۀ په کوم سوچ کښې پريوتې . داسې معلوميږي چې ستا مور پلار به راضي نه شي . "

ساجد په تادئ سره اُووئې ."نه جي داسې څۀ خبره نشته . ځما خوښه ځما د مور پلار خوښه وي . خو خو اصل خبره دا ده چې ځما مور پلار نشته ."

"څه مطلب ؟ " ښځې په حيرانتيا سره اُووئې " ولې اُوس تا ماته دروغ وئيل ؟ تاسو د نن سبا هلکان د جينئ والو له داسې دهوکې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې ورکوئ؟"

ساجد پوهه شو چې بازې د لاس نه اُوځي . داسې خو به دا يوه جينۍ هم حاصله نه کړي . او زر تر زره ئې خبره غوندړه کړه او وائې وئيل.

"تـ.......تـهٔ په غلطه شوې . تهٔ زما مشره ئې تاتهٔ زهٔ دروغ نه شم وئيلې . په اصل کښې ما دا وئيل غوښتل چې ځما مور پلار دلته نشته ."

"نو بيا چيرته دی ؟" ښځه لګه شان نرمه شوه .

"جی .....ځما پلار حج ته تللې دې ." په تُندئ کښې ترينه هم دا دروغ اووئيل شو .

"ستا مور او رور خور خوبه وی ؟"

"نـه جـی هـغـوئ لاهـور تـه تـلـلـی دی . زهٔ به ورته فون اُوکړم او راُوبائې غواړم ."

"ټيک ده ." هغې په مطمينئ سره اُووئې . چې ستا مور راشی نو هغه مونږ کره راوله . لورې دا د چائيوپيالئ لوښی راشه يوسه ."

په جواب کښې د بلقيس آواز رانغلو . ښځې لوښی اُوچت کړل او

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان سره اُوغوریدﻩ او لاړله .

" داجینکۍ چیرته لاړې شی . په کور کښی دلګ وخت دپاره هم نه کینی. ضرور به د ګاونډیانو کره تلی وی ."

ساجد د خپل ځائې نه پاسیدو او اُوئې ویل." ما ته اجازت راکړه . ځما خیال دې چی بهر به هنګامې ختمې شوې وی . "

"ښځې د راتلو سره اُووئې . ښه ده ځویه په خیال سره ځا الله دِ ستا حفاظت اُوکړی او خپله مور ضرور راوله ."

ساجد ډیر په آدب سره سلام اُوکړو او د کور نه بهر راوتلو. بهر راوتو سره لګ په خفګان کښی وو ځکه چی په تلو کښی ئې بلقیس اُونۀ لیده . خودا خفګان ئې دلګ وخت د پاره وو چی لګ مخکښې لاړو نو دوه کوره پس د دریم کور په دروازه کښې بلقیس ولاړه وه . د هغې لیدو سره ساجد یودم تازه شو .

هغې په مزه غونډې اُووئې .

"ځما په زړۀ کښی یره ده . لګ په خیال ځه ، زۀ به په دې سوچ کښې یم چی ته به کور ته په خیر سره رسیدلې ئې او که نۀ ."

"تۀ اُوس فکر مۀ کوه . اُوس به زۀ ستا د پاره د ځان حفاظت

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



کووم. که چیرته سبا هنګامې نۀ وې نو زۀ به تاته د اطلاع دپاره هم هغه ځائې ته راځم چیرته چې تۀ ماسره مِلاؤ شوې وې ."

ساجد جواب آوریدو بغیر مخکښې روان وو. په ټوله لاره ئې دا سوچونه کول اود بلقیس د مینې دې انداز لوېولو. چې هغې سره د دۀ څومره فکر وو. چې د دۀ د پاره د یو ګاونډي په دروازه کښې راغلې ولاړه وه . او د خپل کور نه ځما د پاره د دریم کور دروازې ته راغلې وه . او آیا دا ما د هغه ځائې نه تر خپل کوره پورې راوستې شوه ؟"

د خپل کور پورې راوستو د پاره دله اُوس ډیر دروغ رښتیا کول وو. او فی الحال د دروغو د رښتیا کولو څۀ صورت په نظر نۀ راتلو. دۀ د وادۀ نه پس بچی خو پیدا کولې شو . خو مور پلار ئې چیرته پیدا کولې شوو؟ او بیا د پاڅه د یو رور او یوې خور ضرورت هم وو. دا ډیرزیات ګیر شوې وو. بلقیس دۀ ته د راتلو سره د لرې کیدو خطره زیاتیده . او چې کله د دۀ دماغو کار پرېښودو نو نیغ په نیغه تهانیدار له لاړلو . او هغه ته ئې ټوله قیصۀ تیره کړه . او بیا ئې ورته اُووئې .

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



" انسپکټـر صیب. اُوس زهٔ څـهٔ اوکـړم ؟ پـه ړومبی ځل چی مې رښتیـا اُووئې نو یوه جینۍ د لاس نه اُووته . بلقیس ډیره ښه جینۍ ده . ډیره خوږه خوږه جینۍ ده . که ځما وادهٔ د دې سره اونهٔ شو نو ځـما زړهٔ به مات شی او زهٔ به د هغې د بیلتون غم برداشت نه کړې شم . تهٔ ځما د پاره څهٔ اُوکه کنه ."

"زهٔ څهٔ کولې شم . تا په دروغو باندې هر څه خراب کړی دی . زهٔ دا مـنـم چـی تـهٔ رښتیاوئې نو د ښه کورنۍ والا خلق به تاته کله هم لـور خـور درنـهٔ کـړی . زهٔ تاته د دروغو ترغیب نهٔ درکوم . خو په بـعـضې ځائې کښې د نیک کار دپاره دروغ وئیل پکار وی . بعضې ډاکټران مریضانو ته د دروغو تسلی ورکوی او ژوند پرې تیروی . تـهٔ هم په دې معاشره کښې څهٔ خلقو ته د دروغو تسلی ورکولو د پاره د دروغو مور پلار پیدا کولې شې او د یو عزت داره په شان د ژونـد ابتـداء کولې شې . څوک خپل مور یا پلار جوړول څهٔ جرم نه دې . بلکې دا خو ډیره ښهٔ خبره ده ـ".

ساجـد پـه تُـنـدۍ سره اُووئې ." نو بس انسپکټر صیب تهٔ ځما پلار جوړ شه".

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ځ....څهٔ ز.....زهٔ. خو زهٔ ستا پلار څنګه جوړېدې شم؟ ګوره کنه تهٔ د دیرشو کالویې او زهٔ د پنځه دیرشو کالو یم . دا خو د منلو والا خبره نهٔ ده . چې ماتهٔ پنځه کاله پس پیدا کړې یې . چیرته بوډا سړې او بوډۍ ښځه اوګوره . داسې به درته ډېر خلق میلاؤ شي چې د اولاد د پاره به ترسیبړی هغوی ته به ځوئې مِلاؤ شي او تهٔ به د مور پلار کمې پوره کړې ."

اول د یوې جینئ تلاش وو. چې هغه ورته مِلاؤ شوه نو اُس د مور پلار پـه تـلاش کښې ووتـلو. د ژوند پـه ډیرو لاروکښې د دې حقیقت پته اُولګی. چې بچو ته د مور پلار وجود څومره ضروری وی . خو ولې آیا دهٔ د چا په کور کښې کتې شو او آواز ئې کولې شو چې که د چا اولاد نه وی نو ځما کورله دِ راشي او ځما مور پلار دِ جوړ شي .

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

ساجد چې دَ خپل مور پلار او رونړو خوياندو په باره کښې دَ بلقيس مـور تـه کـوم دروغ وئيـلـې وو اوس دَ هـغـې دَ رشتياکولو په چل نه پوهيدو او رشتيا کول به ئې څنګه ځکه چې مور پلار او خپلوان دَ هغه وونـۀ . څـۀ پـه مشـکـله ورته يوه رينښم بدنه ، او ګل بدنه ځُداي په ګوتو ورکړې وه خو دَ هغۀ خپل شخصيت کښې دومره ازغی وو چې دَ هـغـې حـصول ورته نه صرف مشکل بلکه ناممکن ښکاريدو . هغۀ په هـر حـالت، په هر قيمت او په هره طريقه دَ هغې حاصلول غوښتل او هـر څۀ ته تيار وو خو څنګه او څه رنګې ؟ ټوله ورځ او ټوله شپه به ئې سوچونه او فکرونه کول خو د دې ورانې ماشوړې سر ورته نه ملاويدو . بلکه چې څومره به وخت تيريدو هومره به دَ هغۀ پريشانی زياتيده . کـلـه کله به په وينښه کښې اودۀ او اکثر به په اُودو کښې وينښ وو . کـلـه کله به دَ شپې ناصافه پاڅيدو دَ کور په غولی کښی به ګرځيدو او چـې سـاه بـه ئې ډوبه شوه نو غوټه نيمه شپه ، سر تور سر ، خپې يبله

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپې او پـرانستې ګریوان به بهر اُووتو ، په ګلئ کښې به ولاړ وو او دَ هـغې دَ کور دَ ګلستاݩ په ورېمو به ئې دَ خپل زړهٔ مړاوې ګلشن تاۯه کولو.

☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

☆☆☆

Pukhto.Net
پښتو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

په دوېمه ورځ ساجد هم هغلته اُورسيدو چيرته چې دۀ سره بلقيس مِلاؤ شوې وه . هغې سره د ملاويدو د پاره دومره بې سکونه وو چې سهر وختی پنځه بجې پاسيدلې وواو هغه ځائې ته رسيدلې وو. او په حقيقت کښې بلقيس د نهه بجو نه مخکښې هلته نۀ شوه راتلې . خو په خپل کورکښې په ناسته به ساجد څۀ کړی وو؟ بس کړيدو به . نو ځکه هغه ځائې ته د کړيدو په وجه راغلې وو ځلور واړه طرفته خاموشی وه د کورونو او دکانونو دروازې بندې وې په دې وخت کښې دۀ صرف يوه غمژنه سندره وئيلې شوه ." راشه کنه په انتظار کښې دِ کړيږم."

د سندرې خيال ئې په دماغو کښې راتلو سره هغه د دۀ طرفته په تيزئ سره رارواڼه وه . دۀ د لرې نه اُوليده تورې جامې ئې اچولې وې او ترخ کښې ئې يوه غوټه هم وه هغه په تيزئ سره په تيښته رارواڼه وه . دې پسې روستو ډير لرې دوه ځلور کسان په چغو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـغـو په منډه راروان وو. منډه کړئ . وېنيسئ. اونۀ تښتي . هغه تښتيدلو والا د دۀ خواه ته رارسيدلو سره په يوه کوټه کښې تاؤ شوه ساجـد ورمـخـکښې شو او په کوټه کښې يې اُوکتل نو هغه په منډا مـنـډا د يـو کور په برنډا کښې ننوته او د برنډې لوئې ديوال په شا بـانـدې پـټـه شـوه . لګ وخـت پـس هغـه سړی د ساجد خواه تـه راورسيدل . په دوئ کښې يو په سانيولی انداز کښې اُووئې.

" تا خو دلته يوه ښځه په تښتيدلو باندې اُونۀ ليده ."

ساجـد ورتـه اُووئـې ." آو آو هـغـه پـه دې کـوټه کښې لاړله . بيا مخکښې لاړه او بلې کوټې ته تاؤ شوه . خوخبره څۀ ده ؟"

"حرامئ غله وه . دې وئيلو سره کسَان په منډا کوټې ته ننوتل او بيـا بـلـې کوټې ته واوړيدل . ساجد نه غوښتل چې هغه اونيول شي .څـکـه چـی د نيـولـو والا غل تهانې ته بوتلو نه مخکښې ډير خراب وهـی . او دۀ يـوه ښـځـه په وهلو باندې نۀ شوه ليدې . څکه چې دۀ پـخپله دا ښځه نيول غوښتل او تهانې ته ئې بوتلل غوښتل . چې کله هـغه کسان د نظره پټ شول نو دا په رو، رو هغه برنډې ته لاړلو . د برنډې لوئې ديوال په شا باندې هغه په نظر نه راتله . هغه په رو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



رو بـغيـر د خپو آوازونه دروازې پورې اُورسيدو . د دۀ دا خيال وو چې هغه په کور کښې دننه تللې دہ .

سـاجـد دروازې پـورې د آوريدو د پاره غوږ اُولګولو. نو د دۀ خيال صحيح ووختلو.

د دروازې نـه پـه شـا د يـوسـړی آواز اُوريدې شو. او هغه وئيل ." ګوره زۀ ښۀ صحيح پوهيږم چې تۀ يوه غلګره يئې. يريږه مۀ زۀ هم ځـۀ شـريف سـړې نـه يـم . پـوليـس والا ماته نوسرباز وائی . زۀ د يـوځـائې مال بل ځائې ته کووم . او تا د هغه ځائې مال دلته راوړلو نـو اُوس بـه مـاتـه پکښې نيمه حِصه راکوې .بيادلته په سکون سره ناسته اوسه اُوس نمر ختلو والا دې لګ وخت پس به لاړ شې ."

د هـغـه ښځې آواز اوريدې شو."واوره نوسربازه ځما د مجبورئی نه فـائـده مـۀ اخله . ما دا ډير په محنت سره راپټ کړی دی . تۀ خو پـه يـو ځـائې ناست يئې او پټې احواه ديخواه کولو بأندې خلق لوټ کـوې . او زۀ خپـل ځـان پـه مـرګ حسـابـووم او د خلقو کورنو ته ننوځم زۀ د خپلې وينې او خولې ګټه تا سره نۀ شم نيمه ولې ."

نوسرباز:" دا خو به خامخا راکوې . که په رضائې نه راکوې نو اُوس

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



شور جوړه وم . او اُوس به دِ پرې اُونيسم .

ساجـد اول د کوټې طرف ته اُوکتل . بيا راستون شو او دروازه ئې اُوټـکولــه . د دروازې آواز سـره پــه کمره کښې لګ وخت د پاره خـامـوشـي شـوه. او بيـا د ښـزونـو د اخواه ديخواه د اړولو آوازونه راغلل په دوئـم ځل ټکولو سره سړی آواز اُوکړو .

"څوک ئيې ؟."

" دروازه کهولاؤ کړه بيا به درته معلومه شي چې څوک يم ."

نـو سـر باز په سختئ سره وئيل .څهٔ بکواس کوې .ته څهٔ سهار سهار خـوب خـرابـولـو لـه راغلې يې . دا د شريف سړی کور دې ؟ پوهه شوې ."

دې وئيلو سره ئې دروازه کهولاؤ کړه . ساجد هغهٔ له د هيکا ورکړه . او پـه روستـو ئـې دهيکـا کړو او په کمره کښې داخل شو . بيا ئې دروازه د دننه نه بنده کړه . او وئې وئيل .

"ځا نو تهٔ شريف سړې ئې . او هغه شريفه ښځه چيرته ده.؟"

جـوارګـر اُووئې. کومه ښځه ؟ په بله کمره کښې ځما ښځه ده او هغه پرده کوی . تهٔ دلته د څهٔ د پاره راغلې ئې .؟"

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساجـد اُووئـې ." د دې دپـاره راغـلې يم چې اوس به دا مال درې حـصې کيږی . که ډير بحث کوې نو اُوس به تا او ستا ښځه تهانې ته بوځم. د غلا مال هم د دې کمرې نه راوتې شی ."

هـغـه په خوشامدوشو.. ها ها ها . تهٔ هم خپل سړې ښکارې تا سره بـه څـهٔ جهګـړه کـوو.بيـا بلې کمرې طرفته ئې کتلو سره اووئې اې مشـرې دلتـه راشـه . دا هـم د خپلې قبيلې نه دې . د دهٔ د خبرې ختـميدو سره د دوئمې کمرې نه ښځه راووته . د هغې په مخ باندې وړې وړې د مـړاويـدو نښې وې . د سر ويښتهٔ ئې سپين وو . هغې دواړه لاسونه په دواړو ټُوټو باندې کيښودل او وئې وئيل .

" اې بـوډا تـا ماته مشره ولې اُوئې ؟ بوډئ به ستا مور وی بوډئ به ستـا خـور وی . يـو خـواه رانـه نيمه حِصه غواړې او بل خواه ځما بې عزتی کوې ".

بـوډا نوسرياز اُوئې " نو جهګړا ولې کوې . که آواز دِ داسې بهر اوځی نو څوک څلورم حِصه دار به هم راپيدا شی ".

دې وئيـلـو سره هغهٔ د کټ د لاندې نه پنډوکې راوښکلو او کهولاوه ولوئې. په پنډوکی کښې د سرو زرو کالی . يو ټائم پيس او د ميک

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



اپ پاوډر وغیره وو نو سرباز اُووئې .

" ښځې د غـلا پـه وخت کښې هم د خپل د ځوانولو او خائسته کولو سـامان ګورې . بس اوس تاسو دواړه په سکون سره کینئ او زهٔ دا سامان برابرې درې حصې کووم ."

سـاجـد لاسـونـه اُوچـت کړل او وئې وئیل . " نه دا پنځوکې دوباره اُوتړه . دا به زهٔ تهانې ته اُوړم ."

دوئ دواړه پـه یـره شـول او دهٔ تـه ئـې کتل . ساجد اُووئې د یرې خبره نهٔ ده . که ما غوښتې نو هغه سړو به دا ښځه نیولې هم وې . او دا بـه ئـې ښهٔ وهلې هم وه . خو ځما د دې په بوډئ توب باندې زړهٔ خوږیدلو. ستاسود دواړو عمر به څومره پاتې وی . اُوس خو تاسو له پکار دی چه حلاله روزی اُوګټئ او مړهٔ شئ . "

نـوسـربـاز اُووئـې . څـویه . په حلالو پیسو چې روټئ واخلې نو هغه پیسې په حرامو کښې لاړې شی . ځکه چې په دې روټئ کښې د خړو روټـو بهاسی ټکړې شاملې وی . حلالې پیسې هم ضائع شی . په دې دنیا کښې داسې څوک ایمانداره او مخلص دې ؟"

"مشـره تقریر خو زهٔ هم کولې شم . د لنډې اوږدې خبرو په ځائې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـونـږ لـه په يواصول بانديې تلل پکار دي . چې مونږه په دې د بې ايـمـانـه خـلقو په دنيا کښې تر کومه حده پورې په ايمانداري سره اُوسيدې شو. تر هغې پورې خپل کوششونه جاري ساتو . او په نورو بانديې دګند اچولو په ځائې د خپل ځان اصلاح اوکړو .“

بـوډۍ ښـځې خپل لاس په ګډا کړو او په تيزه آواز ئې اُوئې . ځا ته خو ځوان جان ئې ځکه داسې خبرې کوې چې ځما په شان د دنيا لتې اُوخـرې او تـجربه دِ اُوشي نو بيا به پوئې شې . چې ځما غوندې ښځې په غلا کولو څنګه مجبورې شي .“

نـوسرياز اُوئې .” ځوانه ته د خپلو خبرو نه ډيرايماندارِه ښکارې خو په تيرو څۀ نۀ کيږي .

نـوسـريـاز: کـه چيـرته مونږ اُووايو چې مونږ بوډاګانو سره د عزت ژونـد تيرولو څه ذريعه نشته نو بيا آيا مونږ ته به تۀ په عزت سره روټۍ او کپړې راکړې شې . “

سـاجـد:”هَـو درکولې شم . تاسو دواړه ما يې کاره او نادان غوندې مۀ ګڼرۍ، زۀ درې ځله جيل ته تللې يم .“

” ډيـر ښـۀ . د دواړو دخـوشـحـالۍ سره ځُلې کهولاۇ شوې . په ځُلو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې ئې غاښونه پوره نه وو.

ساجد اُووئې .

" خـو مـااُوس د عـزت د ژونـد تيرولو إرادہ کړې دہ . او که دا د عـزت ژونـد د لـګو دروغـو سره مِلاويدې شي نو زۀ به دا کوشش ضـرور کـوومه.د شريفانو په اُوچتو کورنو کښې راته داسې څوک نه ښـکـاري چې ماځوئ جوړ کړی . نو ځکه زۀ د ريښتو نی نوسرباز په طور دا پوښتنه کووم. آيا تۀ به ځما پلار جوړ شې ؟"

"آها، هاها، ها. دا څه توقې کوې ؟ په دې دنيا کښې د خپل پلار نه علاوہ د ضرورت دپارہ صرف خرونه پلار کولې شي . نو ولې زۀ هم تاته خر ښکارم ؟ "

"نا..... زہ په ربښتيا يم . ځما پلار ځما په وړوکوالی کښې مړ شوې وو. زۀ د هـغـۀ کـمـې پورہ کووم . تا خپل پلار او دا ښځه خپل مور جوړہ ول غواړم .

د دۀ خبرو آوريدو سرہ بوډئ خپل لاسونه کهولاؤ کړل او په جذباتو کښې رامخکښې شوہ .

" هائې ځما بچيه .ځماځويه . ستا داسې خبرو سرہ خو ځما اُودۀ شوې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینـه راوینبـه شـوه .ځـویـه زۀ بـه تـا هم داسې سینې سره لګولې ساتم."

او هـغـه د ساجـد سینـې سره یو ځائې شوه او لکه چې چرته اورک ځـوئـې ورته مِلاؤ شو. او په سلګو سلګو ئې اُوژړل . او د ساجد مخ بـه ئـې ښکلولو دساجد په سترګو کښې هم اُوښکې راغلې وې . کله چې لګ وخت پس تـرینه جُدا شوه . نو ساجد خپلې اُوښکې اُوچې کړې او وئې وئیل.

"مورې دغه د سلو روپو نوټ واپس کړه . کوم چې تا ځما دجیب نه اُوخکلو."

نـوسـریـاز پـه حیـرانتیا سره دۀ ته اُوکتل او وئې وئیل " واه ته خو ډیره پخه اُوختې. ځوئې جوړولو سره دِ ترینه جیب اُوهلو."

"ماداسې خلق هم لیدلی دی چې مور ئې جوړه کړی او بیا ئې مرئ کـټ کـړی " مـور بـی بـی ډیـر پـه دردمـنـد آواز اُووئې ." او مـا خـوصرف جیب کټ کړو . واخله ځویه خپل نوټ دِ واپس واخله . د نـورو مـوریـانـو ژبې ځوئ وئیلو پسې ترسیږی . او ځما ګوتې د چا جیب ته د تلو د پاره رپیږی ."

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـغـې د سـلـونـوټ رامخکښې کړو. ساجد په دواړو لاسونو د هغې لاسونه اُونيول او وئې وئيل .

" دا واخـلـه مـورې . د ځوئ په ګټه کښې د مور پلار حق وی اُوس ئې زۀ په خوشحالئ درکووم ."

د مـور بی بی په سترګو کښې دا ځل اُوښکې راغلې . خو دا اُوښکې د مـکر اُوښکې نه وې . دا ځل د يو داسې مور په شان ژړيده لکه چې ورته يو ديانتداره ځوئې مِلاؤ شوې وی .

ساجد پنځهوکې اُوچت کړو او وئې وئيل .

" اوس بـه مـونـږ تهـانـې تـه ځـوو. تاسو دواړه په مابانديې بهروسه اُوکـړئ. چـی ما تاسو دواړه مور او پلار جوړ کړئ نو بيا به تاسو ته هيڅ قسمه نقصان نه درسووم ."

دوئ دواړه مـجبـورًا هـم ورسره روان شول . هغوی پوهيدل چې د مـور پـلار رشتـه راتـه ډيـره ګرانه پريووځی هغوی تر اُوسه پورې داسـې ځـوئ نـۀ وو ليدلې . چې مور پلا تهانې ته بوځی . ساجد چې تهـانـې تـه اُورسيـدو نو تهانيدار ته ئې ټوله قيصئ اُوکړه او بيا ئې اووئې .

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



" انسپکټر صیب په ډیره سختئ راته دا مور پلار مِلاؤ شوی دی . زهٔ بـه دا دواړه پـه شـریـفـانـه ژونـد تیرولو بأندې مجبوروم او دا مـجبوره هم دی . دوئ سره ټولې خبرې شوی دی . چې دوئ ته به دال روټئ مِلاویږی نو دوئ به د غلا یا د نوسربازئ رزق نه خوری . مـا دا هم په دې اُمید بأندې دلته راوستی دی . چې تهٔ به دوئ په حـوالات کښې د اچولو په ځائې ځما مور پلار اُومنې او ماسره به ئې پریږدې ."

انسپکـټـر اووئـې ." زهٔ صرف د قانون حفاظت کوونکې یم . ماته دومـره اختیار نشته چه زهٔ مجرمان پریږدم . البته زهٔ ډی آئی جی سره ستا حواله بأندې خبره کولې شم ."

دې وئیلو سره انسپکټر ډی آئی جی ته فون مِلاوول شروع کړل. د رابـطې نه پس ئې ورته د ساجد حواله ورکړه او ورته ئې اُووئې چې د دوو غلو سفارش کوی . څهٔ وخته پورې دواړو خبرې کولې. او بیا انسپکټر فون بند کړو . او وئې وئیل .

"سـاجد خانه .ډی آئی جی صاحب ستا په حق کښې فیصله اُوکړه او ډیـره ښـهٔ خبـره ئـې هم اُوکړه چې یو مجرم د سزا نه پس دا وعده

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُوکـړی چـی زۀ بـه په ایماندارئ سره ژوند تیرووم نو بیا هغه دغه شـان د قـانـون مـدد کـوی . څنګه چی تا دا مدد اُوکړو ستاسو په شان خلقو سره چې پولیس والا پوره پوره تعاون اُوکړی نو تاسو به هـم ځان سره نور بدمعاشان د ځان په شان د ژوند تیرولو د پاره رااُوبـلـئ . د مـعـزز او شـریـفـانو خلقو په ضمانت باندې یو مجرم پـریښـوستـې شـی . پـولیـس والا د پـاره تۀ هم یو معزز او شریف انسان ئې نو مونږ ستا په ضمانت باندې دا دواړه تا سره پریږدو."

څـۀ وخـت چـی سـاجـد انسپکټر سره لاس مِلاوولو نو دې نوی مور پـلار ورتـه ډیـر په حیرانتیا سره کتل. دتهانې نه بهر راوتو نه پس ئې پلار اووئې.

"ځویه . اول خو ما تا پورې ټوقې کولې او دا هر څۀ مې ستا چالاکی ګـنـړلـه . خـو اُوس مـې ستـا په ایماندارئ باندې پوره یقین دې . اُوس به تر مرګه پورې هم ستا پلار یمه ."

چـی کـور تـه راورسیـدل نـو درې واړو یـو بـل سره خپله پیژندنه شروع کړه ساجد اول خپل پلار ته اُووئې .

" ستا نوم څۀ دې او د کوم ځائې اُوسیدونکې ئې ؟"

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ځما نوم ګل باز خان دې زۀ آفريدې يم . لس کاله اُوړاندې زۀ د ټرک ډرائيور ووم. او دې ښار ته راغلې ووم . په وطن کښې دننه د ټرک ډرائيورى داسې ده چه دا خو مال د يو ځائې نه بل ځائې ته اُوړى. نو د ټرک ډرائيور خود بخود دسمګلنګ طريقې ايزده کړى . په ټرک کښې دننه چرس ، افيون ، وسله او غلط فلمونه او نور ډير غير قانونى شيزونه په نورو سامانونو کښې پټ کړى او د يو ښار نه ئې بل ښار ته اُوړى . په دې دوران کښې زۀ پوليس والا درې ځل نيولې هم يم. او په دريم ځل ئې ځما نه لائسنس هم واخسته په دې خبرو کښې ګل باز خان ساجد ته اُوئې " تا سره به د چرسو ډک يو سيګرټ وى ."

مورکئ ګل باز خان د روستو نه په مَلا باندې اُووهلو او ورته ئې اُووئې. "ولې اې ګل باز خانه ، د ځوئ نه د چرسو سيګرټ غواړې تاله شرم نه درځى . د سيګرټ نه پس به ورته اُووئې اُوس ماله يوه ښځه هم راوله ."

ګل باز خان رِيره اُوګروله او وئې وئيل .

"ځوئې مې ډير هوښيار دې . ځما د وينا نه ئې اُوړاندې تۀ مور

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه کړې ئې .“

هـغـه يـو دم پـه غـصـه کښـې اُودريـدلـه او دواړه لاسونه ئې په ډوډو کيښودل او وئې وئيل .

” اې زۀ د خپـل ځـوئ مـور خـو جـوړيـدې شم . خو ستا ښځه نه شم جـوړيـدې . ګوره ساجـده خپل پلار دِ پوئې کړه چې ما خپله مور نه ګنړی . او هو...ځما مطلب دې چې په رښتيا دِ ما خپله کور والا نه ګنړی “.

ساجد دواړه لاسونه اُوچت کړل او وئې وئيل

”صبـر ، صبـر . پـه خپـلـو کښـې جهګړه مۀ کوئ . دلته به تاسو د شريفانو غونډې د مور پلار په حيثيت اُوسيږئ . که ما دا ښځه مور جـوړه کـړې ده نـو د دې دا مطلب نه دې چې تۀ دا د دې د مرضئ نـه بـغيـر خپـلـه ښځه ګنړې . څنګه چې د شريفانو خلقو په کورونو کښـې د هلکانو عشقونه نۀ خوښوی . هم دغه شان په دې کور کښې بـه د مـور پـلار د پاره د عشق کولو اجازت نه وی . په ايمان سره وايـه کـه چيـرې ستـا خپـل ځـوئـې وې نـو آيـا تا به تـرينه د چرسو سيګرټ غوښتې وو.

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل باز خان ډېر شرمنده شو او وئې وئيل .

"ځويه زۀ ډېر شرمنده يم . د عادت د مجبورئ د وجې مې د خُلې نه دا خبره اُووته . خو تاٌ هم زۀ د زړۀ نه پلار تسليم کړې نه يم نو آياٌ د شريف کورنئ اولاد پلار ته' تاٌ' وائى څۀ ؟"

ساجد هم د خپلې شرمندئ اظهار اوکړو او وئې وئيل .

" آئـنـده بـه زۀ تـاسـو تـه دادا وئيـم . او مـونږ په ښو خبرو او ښه طريقو سره يو ښۀ کور جوړولې شو. او خلق په دې سوچولو مجبوره کـولـې شـو. چې مونږ څۀ غورزيدلى يا اپرغير خلق نه يوو. خو ماته افسـوس د دې خبـرې دې چې زۀ په رښتياٌ وئيلو باندې دا کور نه شـم جـوړولـې . کـومـه جيـنـئ چې ماٌ خوښه کړې ده . د هغه جينئ کـورنئ ته به هم دا دروغ وئيل غواړى چې تاسو ځماٌ خپل مور پلار يئ ."

مـورکئ خوشحاله شوه . او اُوې وئيلې . " اې ځويه ځماٌ اينګور چرته ده. ماٌ ورله بوځه چې د رشتې خبره ورسره اوکړم نن راته يو ځوئې مِـلاؤ شـو سبـاٌ به راته يو ښکلې د سپوږمئ په شان اينګور مِلاؤ شي ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساجد: ”موري زهٔ تا په دې شکل کښې نهٔ شم بوتلې . اول به ستا د پـاره ښـکـلـې او ښائسته کپړې راوړم . او پته نشته تا به د څومره ورځـو نـه لامبلی هم نهٔ وی . نن په صابن سره اُولامبا او خیری ښهٔ اُومـږه چـی د تیـر شـوی ژونـد خیـرې درنه ټول لاړ شی . بیا به د مـاښـام پـه وخـت کـښـې تـا هـلتـه بـوځـم . نن ما د بلقیـس سره د مـلاویدو وعده کړې وه. خو ستاسو په وجه بانديې لاړ نهٔ شوم . خیر تهٔ دا اُووایه چی ستا نوم څهٔ دې او د کوم ځائې اُوسیدونکی ئې ؟“

”ځـمـا نـوم گـلالـۍ دې . زهٔ د افـغـانستـان مهـاجره یم. چی پـه افـغـانستان کښې جنگ شو نومونږ پاکستان ته راغلو. ځما خاوند پـه جهـاد کښې شهید شوې دې . د خاوند نه راته یو لاکھ روپۍ هم پـاتـې وې . خـو ځـمـا یـو ځـوئې دې چی ځما نه ئې هغه ټولې پیسې واخستـې . او چـی کـلـه مـې ځوئ له وادهٔ اُوکړو نو اینگور روټۍ او کپـړو تـه هـم مـحتاجه کړم .چې کله به اُوږې شوم نو د اینگور نه به مـې پـتـه پـه خپل کور کښې روټۍ خوړله. ځویه زهٔ ډیر زیاته اُوږې کیږم . ما به پۍ هم په پټه بانديې څښل لکه د غلو په خپل کور کښې . او پتـه راتـه اُولگیده چی د انسان خیټه انسان په څهٔ غلطو غلطو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



عـادتونو باندې مجبوره کوی . يو ځل مې د خپل نمسی د حصې پۀ پـه غلا ځنبل چې اينګور ګيره کړم . ځويه تاته پته نشته چې انسان بـوډا شـی نـو بيـا هـغه هم لکه د ماشومانو خائسته څيزونو خـوړلـو تـه پسخيږی پـه دغه وخت کښې ځما مازغه هم ځما د نمسی پـه شان وو. خو اينګور مې هغه غوبل جوړ کړو او داسې داسې د غلا الـزامـونـه ئـې رابـانـدې اُولګول چې هکا هکا حيرانه پـه سوچ کښې اُودريـدم . چې پـه کور کښې داسې غلاګانې هم کيږی .لکه دا څنګه الزامونه چې پـه مالګيږ."

پـه دې ويـنـا دوران کښې مورکۍ چيرته لرې پـه سوچونوکښې خپل ځـوئ او نـمسـی تـه کتـل . او پـه سترګو کښې ئې اُوښکې تيريدې راتيـريـدې. مـورکـۍ پـه غـرن نيولی انداز کښې اُووئې . چې کله انسان بوډا شی نو بې کاره شی . او پـه خپل اولاد باندې بوجهـ شی . او د هـغـې د سـتـرګـو نـه چې کومې اُوښکې اُوځی نو هغه صرف اُوبه ښکاری.

"ځـمـا د شهيـد خاوند پـه يولاکهـ روپو کښې ځما هم حِصه وه . خود ځـوئ پـه مينه کښې رانه خپله حصه هيره وه . او اُوس هم پـه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـور کښـې مـاتـه غـله وئيلې کيږي . او بلکې ما خپله حِصه په غلا خوړله . دا څنګه دنيا ده څويه دنورو نه روټۍ پټه کړه نو خيټه ډکه شي. او د خپـلـې حـصـې روټـۍ پـټه کړه نو خپل څوئې به دِ غَلجنه ګـنـړي او وهـي بـه دِ . څـماڅوئ په ړومبی ځل ما له په مخ سپيړه راکـړې وه . هـغې د خپل مخ په يو انـګـی بانـدې لاس کېښو او وئې وئيـل "پـه دې ځـائې ئې وهلې ووم . تاته به د ګوتو نښانونه خو په نـظـر رانشـي . خو د څوئ ګوتې اُوس هم ماسوزوی او ډير تکليف راکوی. څما څويه ."

مورکۍ په زوره زوره په ژړا شوه او آخری خبره ئې دومره په درد سره اُوئيله لکه چې په ژبه نۀ چيرته په زړۀ باندې وينا کوی .

"اُوس چـې ما ستا د جيب نه سل روپۍ اُوښکلې وې نو ماته دومره حـق هـم حـاصـل نـه دې . چې د يوڅوئ سپيړه خوړلو نه پس د بل څـوئ د سلو روپو غلاژنه جوړه شم . څما د زړۀ سر ما ته اُووئې چې د سهار نه مخکښې مخکښې زۀ هغه کور پريږدم او چيرته لاړه شم . مـاتـه خـو د کـور نه وتل وو .غلاژنه خو جوړه شوې وومه . نو ځکه مې پـه ژونـد کښې په ړومبی ځل د خپلې اينګور کالی پټ کړل او

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د هغه علاقې نه دې علاقې ته راغلم. "

هـغـه د کـټ په یو سر باندې ناسته وه او خپلې اُوښکې ئې اُوچولې .

سـاجـد لاړو او د هغې په خواه کښې کیناستو او بیا ئې په خپله غیرته کښې اُونیوله سینې پورې ئې جوخته کړه او وئې وئیل .

"مـورې پنځه واړه ګوتې یو برابر نهٔ وی . ټول ځامن بې غیرته او د ښځو نـوکـران نـهٔ وی . څـهٔ پـکښـې داسې هم وی چې ښځه په سر کینوی خود مور د خپو په جنت کښې هم کینی . یو ځوئ چې په کوم ځـائـې سپیـره درکړې ده . دوئم ځوئې هغه ځائې په عقیدت سره ځکلوی. "

دې وئیـلـو سـره هـغه د مورکئ په خکلولو شو." مورې زهٔ به خپله میـنـه لـکـه د مـرهـمو د پټئ په شان ستا په زخمونو ایګدم او تهٔ په ایمانداریئ سره ځما مور جوړه شه او بس ."

ګـلالئ:"ځا ځویه د کلونو نه ځما سینه د مورنئ زړهٔ نه خالی وه . او اوس ځـمـا پـه سینه کښې ستا مینه ټوپونه وهی. تهٔ به وادهٔ اُوکړې ځـمـا ایـنـګـور به راشی. ځما نسې به اُوشی . نو اُوس به زهٔ د خپل نمسی د حصې پئ نهٔ ځکم. "

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې د مور پلار غلط ساتنې سره بچي ګمراه کیږي . هم دغه شان د ځوان اولاد رویه د پلار نه د هغهٔ شفقت او مور نه د هغې مینه اُورکوي او دوئ ته د بوډا والي او د محرومیانو احساس ورکوي. او ډیر مور پلار ځما په شان بیا غلهٔ جوړ شي . تهٔ خو ډیر ښه ځوئي ئې . ستا په کور کښې به غلا نهٔ کووم .‟

د مور د طرفه پوره مطمئینډو نه پس ساجد اووئې .

"اوس به مونږ د خاندان شجره څنګه جوړه وو.‟

ګل باز خان اُووئې .” پلار د طرفه د خاندان نوم خوریږي ځما پلار نیکه د قصه خوانئ مشهور تاجر وو. د دې نه نور مخکښې ځما نیکه د مغلو د فوج سپه سالار تیر شوې دې . ځمونږ خاندان د بهادرو خاندان دې . کله ستا مور چې د رشتې د پاره ځی نو ډیر په فخر به د خپل خاندان ذکر کوی . ‟

چې د خاندان مسئله حل شوه نو ساجد اُووئې .

" اُوس د یو رور او د یو خور ضرورت دې . ما د بلقیس مور ته وائیلی دی چې ځما مور ځماد رور او خور سره لاهور ته تلې ده . او ځما پلار حج د پاره تلې دې . ‟

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل باز خان په ږېره باندې لاس اُووهلو او وې وئيل .

" واه ځـويـه تـا خـو مـانـه حـاجـی جوړ کړو. هسې خو ما پنځه کاله وړانـدې خانه کعبې پورې ټک راتګ کړې دې . خو حج مې نۀ دې کـړې . د خـانه کعبې ليدو سره ځما په زړۀ باندې لړزيدل راغلل. ځـمـا زړۀ مـاتـه اُووئې چې دلته حج کولو والا ټول خلق شريفان نۀ دی . کـه چيـرتـه تـۀ هـم ګـډوې د الله تـعالیٰ مخې ته تللې شې نو مـخکښې شه خو زۀ مخکښې لاړ نۀ شوم . ځما خپې په رپيدو شوې . ځـکه چې د حج نه پس د دې خبرې ضمانت نه وو چې خپل وطن ته د راتـلـو نـه پس دلته د عزت روټۍ مِلاؤ شی . ما خو به هم هغه نو سـريـازی کـولـه . ما د لرې نه په ولاړه دا وعده کړې وه که چيرته مـاتـه د شـرافت د ژوند تيرولو موقع مِلاؤ شوه .نو يو ځل بيا به د حـج د پاره راځم . نن ماته د داسې ژوند دتيرولو موقع مِلاويږی . زۀ دا ګـنړم چې ستا خبره منلو باندې زۀ ستا په کار راشم نو ماته به د حج ثواب مِلاؤ شی ."

"صـرف پـه خبـرو بـاندې عزت نه ميلاويږی . دا به د دې دنيا په نـوم بـانـدې شريفانو سره باقاعده جنګ کوی .....ترڅو په عزت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـره روټـۍ او کپـړې مِلاؤ نۀ وي . تر هغه وخته پورې به دا ددنیا والا خـلـق د خپـل ځـان بـرابر ځائې نه درکوي . ساجد تر ماښامه پـورې نـوې کپـړې اخستـې وې او د نوي مور پلار زاړۀ شکلونه ئې بـدل کـړي وو. او شـریفانان ئې تـرینه جوړ کړي وو. په ډکه خیټه روټـۍ خـوړولـو د پـاره د دهـوبـي تـوب ګـټه کافي نه وه نو ځکه دا فیـصـلـه اوشوه چه ګل باز خان د پاره یو ګاډۍ واخستې شي چې په هغې به د ماشومانو جامې ، بنینونه، جُرابې ، ټوپۍ وغیره خرڅوي .

ساجد اُووئې .

" ګوره دادا جانه . مونږ خو په بې ایمانۍ سره په خپلو کښې د وینې رشتې قائم کړي دي . خو روزي به په ایماندارئ سره ګټو دې کور ته به د حرامو یوه روپۍ هم نه راځی .

☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

☆☆☆

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

دَ بلقيس دی کور ته لاړل .

بـلقيس په کور کښې يواځې وه او دَ ساجد دَ وعدهٔ خلافۍ په وجه ئې پـه زړهٔ کښې ډيرې ګيلې مانې او ډيرې خبرې وې هغې دا غوښتل چـې هـغه سره ملاؤ شی او ټولې خبرې ورته اوکړی ، هغه ارمانونو نه ورته اووائی چې هغه دَ هغهٔ دَ وعدهٔ خلافۍ په وجه سره سحر تس نـس او دانـه وانـه شـول . دَ شـب هـجر روداد ، آرزوګانې او خپلې تـلـوسې ورتـه اووائی ، کومې چې دَ هغه دَ تلو نه روستو دَ هغې په زړهٔ کښـې پيـدا شـوې او لـکـه دَ ازغـو بـه يـې دَ ژبـو په څوکو هغه سـکـونډله ، دَ هغه انديښنو تذکره ورته اوکړی چې لکه دَ خپسې دَ هـغـهٔ پـه ټول بدن خوره شوې وه او ټول اعضائې ورله شل کړی او هـغـې دا غـوښتـل چـې هـغهٔ سره دَ آرمی سټيډيم يا دَ کمپنی باغ دَ ګـلونو په وړمو کښې کينی ، دَ هغهٔ په اوږو سر کيږدی او هغهٔ ته په ډکـو سـتـرګـو دَ عشـق دَ ستمګرئ ټولې خبرې اوکړی . دَ هغې هغه خـواهشـات چـې دَ سـاجد دَ وعدهٔ خلافۍ په وجه پوره نشول ، ټول

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغـونـړ شـوي وو او ټـولو دَ هغهٔ خلاف شکايتونه کول . په ديکښې دروازه اووهـلـې شوه . دَ دروازې ډيولو سره دَ هغې په مخ دَ مسکا رنـړا راغـلـه . دَ اميدونو هواسره دَ هغې سرې شونډې لکهٔ د ګل دَ پاڼو بيلې بيلې شوې ، آرزوګانې او ارمانونه ئې په خندا او جزبات ئـې پـه مُسـکـا شـول او دروازې پلو روانه شوه چې دروازه ئې لرې کړه او ووې کتل نو دَ هغې دَ ارمانونو شهزاده په مسکو سترګو ولاړ وو او انتـظـار ئـې کولو . دَ هغې زړهٔ غوښتل چې ورمنډه کړي هغه پـه غيږ کښې اوچت واخلي کور ته ئې دننه کړي ، دروازه بند کړي او دَ سحر ټول ارمان پرې اوړوي خو چې خيال يې اوکړو نو هغهٔ سـره خـوا کښـې يـوه بـوډۍ هم وه دَ بوډۍ موجودګۍ په هغې کښې نوې احساسات ، خواهشات او جذبات پيدا کړل کوم چې دَ هغې دَ نـوې ژونـد دَ نـويـد عناصر وو او دَ کومې دَ تکميل دَ پاره چې هغه هـرې قـربـانـۍ تـه تيـاره وه. دَبـوډۍ پـه ليـدو بانديې هغې داسې مـحسـوسـه کـړه لـکه چې هغې په خپله لوپټه کښې دَ هغې دَ پاره دَ ژونـد ټـولـې خـوشـحـالـۍ راوړې دي او هغه ټولې په هغې او ساجد شيـنـدل غواړي ، دې خيال سره هغه مسکۍ شوه او هغوي ته ئې دَ

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنــنــه راتللو اشاره اوکړه . هغه ساجد چې د هغهٔ ليدو ته هغه لکه د بې اوبو کب بې تابه اوبې قراره وه اوس د نوې اميدونو سره راغلې وو ، هغوی ته ئې په بيټک کښې د کيناستو اشاره اوکړه خو په خپله ئـی ورسـره د ناستې جرأت اُونهٔ کړې شو بلکه اوشرميده ، مسکئ شـوه او پـه بـلـه کـمره کښې پټه کيناسته ........لږه شيبه پس د بلقيس مور کورته راغله .

د بيـټک کـمـره ډيـره ښـائسته وه .ډير قيمتي ډيکوريشن پيسونه پـکښې پراته وه چې تقريبًا ټول غير ملکی وو بوډی چې دغه قيمتي څيـزونـو تـه کتل نو نيمه نه پاتې کيده . وائی چې عادت تر سره ، سره وی دغه حال د ګلالئ بی بی هم وو هغه د ساجد د رشتې زيات د دغـه قيمتي څيزونو د پټولو سوچ کولو ، خو ساجد د هغې په خيال پـوهـه شـوې وو او هـغـې لـه ئـی وارنـنګ ورکړې وو چې کله ئی د بـلـقيـس د مـور پـــه لاس کښـی قيـمتي پرس اوليدو نو بدن ئی اوتښـنيـدو او دا خيـال ئـی کـوو چې څهٔ رنګه به هغه په دغه قيمتي پـرس کښـې دنـنه سامان ياپيسی اُووينی او په کومه طريقه به ئی تـريـنـه اوبـاسی چې د هغې د زړهٔ تسکين اُوشی . دې سره هغې د

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـاسیـدو کـوشـش کـوو دَ بلقیس مور په هغې پوهه شوه نو ورته ئې
اُووئیل :

" راځـه خـورې کینه . که ستا په راتلو کښې لږ وخت نور تیر شوې
وې نو بیا به دِ ماسره ملاقات نهٔ وو شوې . اوس به زهٔ روستو لاړه
شمه . ساجد وې چې ته لاهور ته تللې وې ."

ګـلالـۍ:" آو خـورې نـن سهـار راغـلـې یم . ځما لور د بی اې فائنل
پرچې ورکولې. هغه په هم درې څلور ورځې پس د رور سره راشي .
ستاسو بلقیس هم راته ښه تعلیم یافته ښکاری . "

دبلقیس مور:"نه خورې ما په دې باندې ډیر تعلیم اونهٔ کړې شو.
دا چې په لسم جماعت کښې وه نو ما د دې وادهٔ کړې وو. ساجد خو
په تاسو ته د دې د وادهٔ ټوله قیصه کړې وی .

ګـلالۍ:" او... د ساجد نه مې زبانی چې دا هر څه واوریدو نو ډیره
خـفه شوم په داسې ځوانانو باندې ډیر ډیر لعنتونه د چا چې مخکښې
روستو څوک نهٔ وی. د چا چې مور پلار هم نهٔ وی . پته نشته چې دا
د کـوم ځـائـې نه راپیدا شی . په هلکانو باندې بالکل بهروسه نهٔ دی
کـول پـکـار . پـوره اول نـمبر لوفران وی ساجد په مرئ تازه کولو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـره مـور تـه احساس ورکړو چې هغه خپل ځوی ته هم په ناپوهۍ کښـې لـوفـر وائـی ییـا ئـې په مزه غوندې ښنګل باندې اُووهله چې خبره بدله کړی .

ګلالۍ:" اې ځویه دا تۀ مې په ښنګله باندې ولې وهې ؟" او بیا د دۀ د خـواه نه پاسیده او د بلقیس د مور په خوا کښې کیناسته او بیا ئې اُووئیلې.

" تـه دلتـه په ناسته ځمونږ خبرې څۀ د پاره آورې . لاړ شه متهائی راوړه زۀ به د خپلې لور خُلۀ خوږوم بیا به ځم ."

ساجـد شـرمیـدو سـره مُسکې شو او د هغه ځائې نه لاړلو.څۀ نیمه ګهینـټه پس ئې چې متهائی راوړله نو بلقیس هم هغلته ناسته وه .

ټـولـو چـائـې څښـلـې ساجد چې رااُورسیدو نو بلقیس د تلو د پاره پاسیده نو ګلالۍ د لاس نه اُونیوه او ځان سره ئې کینوله .

" اې لُـورې چیـرتـه ځې . نن سباچې کومې جینکۍ شرمیږی هغوی ته خلق کم عقلې وائی . شابه ځما د لاس متهائی اُوخره ."

دمـتهائی ډبې ئې کهولاؤ کړو او یو لډو ئې تـرینه راواخستو بلقیس اُوشـرمیـده او خُـلـه ئې پټه کړه . ساجد خپلې شرمیله محبوبې ته

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيـر په مينه مينه کتل . هغې د لډو خوړلو نه انکار کولو خو په زړه کښـې ئـې د لـډوانـو نـه چـکونه وهل . خو ګلالۍ ورته آخر هم لګ غوندې په خُلهٔ کښې ورننويستو او وې خوړو. او چې ساجد سره ئې سترګـې مِـلاؤ شـوې نـو د شـرما ئې مخ تک سُور شو. د ساجد په شـونـډو باندې نرۍ نرۍ مُسکا وه او د هغې ښکلې سترګې د مينې او خـوږوالـی نه ډکې وې . ګلالۍ د خپل ګريوان جيب نه د سلوسلو دوه نـوټونه را اُوخکل او بلقيس ته ئې په لاس کښې ورکړل . هغې موټې لاس سره د سور مخ د هغه ځائې نه په منډه باندې لاړه .
واپس راتلو کښې ګلالۍ ساجد ته اُووئې چې د وادهٔ نيټه مو کيښوده د بـلـقيـس د مور ډير ډهنګ نهٔ دی خوښ . ځکه چې شپږ ميـاشتـې وړاندې د بلقيس پلار وفات شوې دې . ځکه د خپلې لور نـکاح په ساده طريقې سره کوی او لور په سادګۍ سره رخصت کول غواړی . د راروانې مياشتې په وړمبۍ جُمعې باندې به نکاح تړو.
ساجد اُووئې" خومورې دومره زر به وادهٔ څنګه کيږی . لا تر اُوسه پورې د يو رور او يو خور انتظام هم کول دی . "
" مـنږه خو څوک اُونيسه او رائې وله . دلته خو هر يو دا دعوه کوی

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مسـلـمانان ټول په خپلو کښې رونړه دی . او د خپلې ښځې نه علاوه ټولې ښځې خویندې وی . هم د دې وعدې په نسبت سره په قدم قدم کښې رو او خور مِلاویدې شی . "

" دا خـو ټیک ده مـورې خـو مـونږ ته به د مستقل اُوسیدو د پاره رور یا خور مِلاؤ نۀ شی . "

" وادۀ کـولودپاره په عارضی طور بانديې مِلاویدې شی . لا خو وادۀ ته پنځلس ورځې شته دې . د چیرته نه چیرته به دا رشتې مِلاؤ شی ".

دوئ چې کور ته راغلل نو ګل باز خان ته ئې اُووئې چې د وادۀ نیټه پـخـه شوه ، او صرف د رور خور مسئله باقی پاتې ده . که چیرته د وادۀ پـه وخـت رور او خـور پـه نـظر رانۀ غلل نو د جینئ والو ته به زمونږ دروغ ښکاره شی . ساجد یو دم اُودریدو او وې وئیل .

"مـانـه خـو هیـر شـوی وو. مـا خو تا له د بلقیس د پاره سل روپئ درکـړې وې . او تـا خـو خپـلې اینګور ته دوه د سلو نوټونه ورکړل دغه دوئم د سلو نوټ تاسره د کوم ځائې نه راغلو ؟"

هغې په ښنتو انداز کښې اُووئې ." ګوره ځویه په وړمبی ځل بانديې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



اینـګور له په سلو روپو بانډې ماله شرم راتلو . نو ما څۀ کړی وې چې د مـور پـرس ئـې پـه میز بانډې پروت وو. ځما لاسونو خارخ شـروع کړو . تا د غلا نه هم منع کړې ووم ، ځکه ما غلا اُونکړه . د هـغـې د مور پیسې مې د هغې خپلې لور ته ورکړې . ګوره ګوره تۀ مـاته داسې مه ګوره. تاوئیلی وو چې دې کور ته به د حرامو پیسې نـه راځـی . ما د ځان د پاره دا غلا نه وه کړې . د هغه ښځې پیسې هـم د هـغـې په کور کښې پاتې شوې . او تۀ لګ سوچ اُوکړه ځما په دوه سوه روپو بانډې ستا څومره عزت زیات شو."

ساجد وئیل چې دا خپل سرڅۀ سره اُووهم .

" مورې که تۀ ګیره شوې وې نو بیا به څۀ کیدل ؟"

" مـا نیـول دومـره آسانه نۀ دہ . تا په ورمبی ځل بانډې لیدلې نه ووم څه ؟ په ما پسې خلق مې څنګه بې وقوف کړی وو. ستا د جیب نه مې چې پیسې اُوخکلې نو ولې تۀ پوهه شوې وې څه ؟ تۀ هم د دې قبیـلـې سـړې یې . زۀ دا منم چې ماله داسې نۀ وو کول پکار خه بس دې غُصه اُوتوکه . بیا به د شکایت موقع نه درکوم ."

ساجـد بـه وربـانـدې مـجبـورًا هـم بهـروسـه کوله . که بهروسه ئې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



وریـانـدې نـهٔ کـولـې نو په رُو رُو به ځم شوی مور پلار به ترینه بیا وران شـوی وو. بـعـضـې وخـت بـه مور پلار هم لکه د ماشومانو په شان پوهه وې . په بله ورځ ساجد ګل باز خان ته زر روپۍ ورکړې چې چیرته زړا ریړه واخله او په هغې باندې سامان اُولګوه . ګل باز خان نوټونه په لاس کښې اُونیول او وئې وئیل .

" ډیـرې ورځـې پس یو ځائې پوره زر روپۍ په لاس کښې وینم .تهٔ بې غـمـه اُوسـه زهٔ بـه ریـړه واخلم او په هغې به سامان اُولګوم . او ورسره به ستا دپاره یوه خور او ځان د پاره یوه لور هم ګورم ."

دې وئیـلو سره هغه لاړو . ګلالۍ هم به په کورونو ګرځیده . چې که چیـرتـه "څوک ضرورت مند پیدا شي او هغه خپله لور جوړه کړی او کور ته ئې راولی . ساجد هم ټوله ورځ اخواه دیخواه ورګرځیدو. او ماښام LRH هسپتال مخې ته لاړو . د دهٔ دا خیال وو که چیرته څـوک بې سهاره جینۍ مِلاؤ شی نو خپله خور به ئې جوړه کړی هلته کښې ئې خپل یو دوست اُلیدو هغهٔ ته ئې دا خبره اُوکړه نو هغه هم حیران شو او وئې وئیلې .

" یـاره عـجیبه دهٔ خلق خو د مینې محبت دپاره جینکۍ ګوری او تهٔ

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ېږئې چې چيرته د معشوقې په ځائې ئې خور جوړه وې . ځا تهٔ رازه ماسره زهٔ تا يو غريب بوډا سره مِلاووم."

دوئ يـو زوړ غونډې کور ته ورننوتل . په کور کښې يوه غنم رنګې جينئ په نظر راغله . ديو بوډا آواز راغلو.

"څهٔ خبره ده ايازه ؟ ډيرې ورځې پس راغلې ."

"فقير بابا. دا ځما دوست دې تاراته وئيلې وو چې ځما لور له چيرته رشتـه ګوره . ځما دا ملګرې رشته غوښتو له راغلې دې . خو دا ئې ځان سره د خور په رشته بانډې بوځی ."

بـوډا ورتـه په غُصه کښې اُوکتل او بيا اُوغوريدو وئې وئيل " آيا تهٔ مـا بې وقوفه يا پاګل ګنړې ؟ ولې ماته پته نشته څهٔ چې د دې ښار بـدمـعـاشـان خـلق په څه چل بانډې غريبې جينکئ د خور په بهانه بانډې بوځی او بيا ئې په چکله خانې کښې پريږدی "

سـاجـد هـغـې جينئ طرفته اُوکتل او وئې وئيل " زهٔ الله ګواه کووم چې زهٔ به دا خپله خور ګنړم او د يو څکه رور په شان به د دې عزت کـووم . اې ځـمـا خـورې پـه مابانډې يقين اُوکه . تهٔ به ځما په کور کښې د يو رور د غيرت په شان اُوسيږې ."

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



جینئ ځوانه وه ، د هغې په سترګو کښې د خپل ځان د پاره د خاوند تـصویـر ګرځیدو . او په دې عمر کښې جینکئ چیرته د پردی رور خـوښـونه نۀ وینی ځکه دې ساجد ته په مایوسئ سره اُوکتل او بیا ئې ځُـلـۀ تاؤ راتاؤ کړه او مخ ئې تـرینه واړولو . ساجد چپه خُلۀ د کور نه بهر راوتلو او په خندا کښې ئې اُووئې .

" زۀ هـم څـومره بې وقوفه یم ، ترننه پورې یو پلار هم خپله لور د چـا د خور جوړولو په نیت بانډې د کوره نۀ ده رخصت کړې . د دې دنیـا د رواج او دستور نه خلاف که ډیر هم نیک کار کوې . په هغې کښې خرابتیا راځی ."

سـاجـد دمـلـګـرو نـــه رخـصت واخـستو راروان شو او د ځان سره بُـنـړیـدو . ګـرځیـدو راګیرځیدو کښې په یو بازار کښې روان وو. هلته یو غریب ریړې والا د دوه بدمعاشانو په وړاندې مِنت کولو.

"ځویه نن د سهار نه بازار خراب دې . زۀ نن تاله نشم درکولې .دا بـاجـوړیـان وو. پـه دوئ کښـې یـو بـدمـعـاش دغه غریب سړې د ګریوان نه اُونیولو او وې وئیل .

"خنزیره پیسې خوبه ستا پلار هم ورکوی . مونږ له پیسې پکار دی

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټي نو دا ریړا به دِ اُلټا پرته وی . "

ساجد د هغوی د شا طرفنه راغلو او په شائي ورله لاس کیښودو او وې وئیل .

"ځلمیه دا بوډا ډیر کمزوري دې . دیخوا دِ پلار ولاړ دې مانه غټه ټیکس واخله ."

" راځـه شـودا ولـې تـهٔ هـم دادا ګیـری کـوې .تا خو په یوه سپیړې باندې اُودهٔ کووم ."

دې وئیـلـو سـره ئـې پـه لاس سره ګزار اُوکړو ساجد ترینه روستو شـواو خپـل مـلـګـري ئـې اُولـګیـدو . او ورپسـې ځښت سـاجد یو زبـردست سُوک په ځُلي ورکړو. هغه مخ په شا په ریړې ورغلو او اُلـټـا اخواه پریوتو او بیا یو غوبل جوړ شو. دکانداړانو خپل دکانونه بـنـدول اُوتـښتیدل . باجوړي هم ښه جوړ ځوان وو. هغه هم ساجد تـه خپـل زور ښـودو او دسـاجد نه ئې وهل هم خوړل . په لږ وخت کښې نور غټاګان هم راورسیدل خو دې باجوړی ورته اُووئې .

" اودریـږئ دا ډیـر تـکړه دې . او ډیر خائسته جنګیږی . تاسو په مینځ کښې مهٔ راځئ . مونږ به خپله فیصله پخپله کوو."

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وئيلو سره دغه ځوان ساجد له په ځُلې يو سُوک ورکړو .

"تهٔ څوک ئې او د کوم خوا نه راغلې يئې ؟."

ساجد د سُوک سره روستو لاړو او دهٔ ته ئې لتې ورکولو سره اُووئې.

"ځـمـا نـوم سـاجـد دې . او زهٔ يـو سـزايافته مجرم يم . خو اُوس د پـولیـس پـه مدد سره شريفانه ژوند تيروومه . زهٔ د چا بدمعاشی نشم ليدلې. ځکه به تا په وهلو وهلو تهانې ته بوځم ."

هغه ځوان د زمکې نه پاسيدو او په تيزه خندا سره ئې اُووئې .

"دا څـه نـخـرې دِجـوړې کړې . دلته مونږ ټول په تهانه کښې بهته ورکوو. او اُوس به تا نه هم بهته اخلم ."

او دواړه بيا اُونښتل . ځوان اُووئې .

"شوده تهٔ ځان څهٔ ګڼړې . دلته مونږ د دوه کالو نه داداګيری کوو. تهٔ به د دې ځائې نه ژوندې لاړ نشې ."

سـاجـد: "کـه زهٔ تا دلته په وهلو وهلو بې دمه کړم او ژوندې درنه لاړ شم نو څهٔ انعام به راکړې ."

بـدمـعاش: " تهٔ چې څه غواړې زهٔ به ئې درکړم او تا به خپل استاد اُومنم ."

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساجد ورله په سرباندې يو تيز ګزار وركړو . هغهٔ سر اُونيولو او په شا لاړلو . او دهٔ ورله يو څو ګزارونه وركړل او په ځائې پريوتو. په بازار كښې ښهٔ ګڼړه جوړه وه . خو ټولو خلقود لرې نه تماشه كوله . او دوه بدمعاشانو ته د امن او شريفتوب سبق چا هم نشو وركولې .او دا دواړه لكه د غرونو جنګيدل . يو بل تهٔ ئې سبق ښودو د پاره وهل وركول .څهٔ وخته پورې جنګ نه پس د ساجد زور پرې زيات شو . اُوس هغه ځوان بالكل نشو اُودريدې خپل ځان ئې د اُودريدو د پاره ډير ټينګولو د هغهٔ لاندې نور غنهاګان په ساجد باندې راغلل نو دهٔ ورته لكه د زخمي زمري غوندې آواز وركړو.

"روستـه شـئ . څـوک بـه هم نهٔ راځئ. زهٔ بُزدِله نه يم . دې ځوان سـره مې چې كـومـه خبره كړې ده . هغه خبره به پوره كووم دې وئيلـو سـره هـغه په زمكه باندې راپريوتو. بيا ئې يو ديوال ته شا اُولګوله او وې وئيل .

"خـنـزيـره تا خو په رښتيا باندې زهٔ بې دمه كړم . وايه څهٔ غواړې اُوس ؟"

"چې څهٔ اُوغواړم په ايمانداري سره به ئې راكوې . "

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـغه لاس اُوچت کړو او د خلقو طرفته ئې اشاره اُوکړه اووې وئيل
.

"هـاں هـاں ضـرور بـه ئـې درکوم . دومره خلقو په مخکښې درته وئيم . اُوس اُوغواړه ."

ساجد: " زهٔ تاته د يو رور مينه غواړم . را به ئې کړې شې ؟."

هـغـه ځـوان يـو دم حيـران شو او دهٔ ته ئې په برندو برندو سترګو اُوکتـل. د بازارونوخلقو هم ساجد ته په حيرانتيا سره کتل . خو په کتو کښې د خلقو يو مينه وه .

ساجد اُووئې .

"زهٔ د يـو عزت دار کور جوړلو د پاره د عزت دارو په تلاش کښې راوتې يم . او ځما دا يقين دې که چيرته تهٔ ځما رور شې . نو د رور عزت ساتلو د پاره به تهٔ ضرور د ښه ژوند تيرولو کوشش کوې ."

ځوان د ديوال په مدد سره اُودريدو او وئې وئيل .

"پـريـږده څهٔ نخرې کوې . تا تهٔ پته نشته ځما او ستا په شان سړى چې د بدمعاشئ ژوند تيروى . نو شريفان به هم خوشحاله وى . که مونـږ تـرېنـه عـزت اُوغواړو نو دا خلق به مونږ له کله هم عزت

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانـګـړی . اُوس بـه زهٔ تـاته څهٔ اُوئیم . په قسم باندې چی په دې دومـره لـوئ ښـار کښـې عزت غوښتو غوښتو باندې مانه بدمعاش جـوړ شـو. اُوس تهٔ ما رور جوړوې. نو څله زما ټوله خانه خرابه وې .“

سـاجـد پـه مـزه مـزه د دهٔ خـواه ته راغلو او د ائې د دواړو مټو نه اُونیولو او وئې وئیل .

”عـزت پـه غـوښتـو باندې نه مِلاویږی . د مور پلاراو رور خور د سـوری لانـدې حـلال رزق خـوړلـو بـاندې عزت ملاویږی . مونږ دواړه ځواناان یو. ولې مونږ په خپله د اُوبو څښلو د پاره کوهې نشو کنستلې څهٔ.“

بدمعاش:” چه ته راته رور وئې نو زهٔ به داسې ضرورکووم .

وایه . اُوس به مونږ څهٔ کوو.“

ساجد: ”تهٔ ماسره ځما کور ته لاړ شه او مور پلار سره مِلاؤ شه “

بـدمـعـاش:” ګـوره تـهٔ بیا ټوقې کوې زهٔ به مور پلار سره په قبر کښې څنګه ملاویږم ؟“

ساجد: ” اُوهو.....تهٔ پوئې نشوې . مور پلار خو ځما هم نشته دې

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



. څـنګـه چې مې ته رور جوړ کړې هم دغه شان مې يوه بوډۍ ښځه مور او يو بوډا سړې پلار جوړ کړې دې .

واوره روره . د عـزت ژونـد تيـرولو د پاره وړومبې د خپلو رشته دارانـو نـه ميـنـه او عزت اخستل وی . د دې نه پس بيا د نورو نه عزت مِلاويږی."

بـدمعاش:"ځا راځه ..........چی نن زهٔ خپل مور پلار سره هم ملاؤ شم ."

دوی دواړه د هـغـه ځـائـې نه روان شول په لاره کښې تـرينه ساجد تپوس اُوکړو .

"ستا نامه څهٔ ده . ؟"

بدمعاش:" دلته ماته ټول دادا وائی . خو ځما نوم ارشد دې . تهٔ راته دا اُووايه . چی تهٔ په اصل کښې څوک يئې ؟ او تهٔ د نورو په لانـجو کښې ولې راځې . څوک رور کوې . څوک مور پلار جوړه وې ...ګوره روره صفا صفا وايه . څهٔ دهوکه خوبه نهٔ کوې کنه ."

سـاجـد دهٔ تـه د يقين ورکولو د پاره خپله قيصه د اول نه تر آخره پـورې اُوکړه . ماګنړل چی يوې شريفې جينئ سره به وادهٔ اُوکړم او

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپـل کور ته به ئې راولم . خو جينئ والا داسې يوازې سړی له رشته ورکـولـو نـه يـريږی د چا چې مخکښې روستو شوک نۀ وی . په دې دنيا کښې کله ناکله د رښتياؤ د پاره لږ ډير دروغ هم وئيل غواړی .

څکه ئې په دروغو بانديې مور پلار کړی دی او اُوس ئې دا رور کړو او روان کړې ئې دې . او صرف د يو خور کمې دې ."

ارشد چې د دۀ خبرې واوريدې نو وې وئيل .

" سـاجـد ه روره . ستا خبرې آوريدو نه پس مې په رښتيا باندې د عـزت ژوند تيرولو ته زړۀ اُوشو. دا خو ډيره ښکلې آئيډيا ده . که مونږ دا د يو ځائې بل ځائې ډغرې خوړو والا خلق په خپلو کښې يو ځـائـې شـو او عزت اُوغواړو نو دا عزت داره خلق به انکار اُونکړې شی ......

ارشـد: را زه چې دې هوټل ته ننوځو.....يو کپ چائې به اُوڅکو بيا سوچ کوو چې چيرته نه به يوه ښۀ خور مِلاؤ شی . "

دوی دواړه يـو هـوټـل تـه نـنـوتل . د چائې څښلو په دوران کښې ارشد ورته وئيلې چې دا څنګه بدمعاش جوړ شوې وو.

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



څـوک هـم د مور د خيټې نه بدمعاش نۀ پيدا کيږي . خو چې روټئ ورته نه مِلاويږي نو بې ايمانی کوی . چې عزت ورته نۀ ميلاويږی نو بد معاشی شروع کړی او د نورو نه ځان اُوچت ګنړی . که عزت ورته مِلاؤ نشی نو اُوچت والې خو ورته مِلاؤ شی کنه .

دچـائـې څښـلـو نـه پس دوئ څو کوڅو کښې تيرشول او ډيګرئ ته اُورسيـدل. شپـه ډيـره تيـره شـوې وه . د بالاخانو نه د ډهول او د ګهنګروګانو آوازونه راتلل.

ساجد اُووئې .

" د دې ځـائـې نـه زر اُوزه. ځکه چې دلته عزت داره خلق نۀ راځی ".

ارشد: "دا تۀ څۀ وې ساجده روره . دلته خو د ټولو نه زيات عزت داره خـلـق راځـی . زۀ ستـا خبـره مـنـم او تاسره ځم تۀ ځما خبره اُومـنه او ماسره بالاخانې ته لاړ شه په قسم چې زۀ به ستا بې عزتی نۀ کووم ."

دۀ د سـاجد لاس اُونيولو او په زور سره ئې راښکلو او يوې بالاخانې تـه ئـې بـوتـلـو . هلته په مختلفو کمرو کښې مختلفو ډمو مُجرې (

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګـړاګـانـې) کـولې . څۀ داسې هم وې چې د ګاهکانو په انتظار کښې نـاستې وې. ارشد چې ساجد کومې کمرې ته بوتلو هلته یوې بوډۍ مشـرې د ډُوپـړو بـاجـو پـه مینځ کښې ناسته وه . چې دوۍ ته ئې اُوکتل نو په خندا شوه او د استقبال د پاره اُودریده .

هم هغه وخت یوه ښکلې ځوانه جینۍ د بلې کمرې نه رااُوتـه او راغله هغه مشـرې ورته ووئې .

"لُورې په خپو کښې ګهنګرو ګان واچوه قدردان راغلی دی . "

ارشد لاس اُوچت کړو او وئې وئیل .

" نـه ....... ګهـنـګـروګـان بـه نۀ تړې . ګوره بوډۍ . تا ماته یوه ورځ وئیـلـې وو . چـې خپله لور د دې دوزخ نه اُوخکل غواړم . چې څـوک دولـت والا مـلاؤ شـې نـو د لور وادۀ به ورسره اُوکړم . مونږ دولـت والا خـو نـۀ یـو .یـو عزت دارمې راوستې دې . مونږ دواړه رونړه یوو. او ستا لور خپله خور کوو او ځان سره ئې بوځو. "

ساجد په حیرانتیا سره ارشد ته اُوکتل . هغۀ چیرته سوچ هم نه وو کـړې چـې چیـرتـه د یوې ډمې لور به خور کوي . بوډۍ داسې په نۀ زړۀ سره اُووئې.

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ولـې ؟ اې ارشاده زمونږ د دهندې په وخت ولې فضول خبرو کولو د پـاره راغـلـې يـې ؟. ځـا خپله لار نيسه او مونږ خپل کار کولو ته پرېږده ."

جيـنـئ پـه خـنـدا کښې اُووئې . "مورې . تا هم خپله ځوانی په دې بـالاخانه کښې برباده کړه آيا تا کله داسې ګاهک ليدلې دې چې يوه ځوانه جينئ خپله خور جوړه ولو دپاره راغلې وی ".

د مشرې د ځواب ورکولو نه مخکښې ساجد اُووئې .

" او! دا بـالـکـل عـجـيبـه او نـه اُورېـدونـکې خبره ده . دلته راتلو نه اُوړانـدې مـاهـم دا سوچ نۀ ووکړې . خو اُوس زۀ دا ګنړم چې تۀ ځما ډيره ښه او خوږه خور جوړېدې شې.

ولـې ستـا په زړۀ يا په ذهن کښې کله هم داسې تمنا نۀ ده پيدا شوې چې تۀ يو د عزت ژوند تيرکړې.؟"

د سـاجـد سـنـجيدګئ او په وينا کښې د صداقت د وجې جينئ يو دم خـامـوشـه شـوه . او دۀ ته ئې اُوکتل . او دۀ ته ئې په کتو کتو کښې ځان سره د نورو ډمو په ژوند بأندې غورکولو . او په زړۀ کښې ئې وئيـلـې . څـۀ ميـلاويږی دوئ ته ؟ په ځوانئ کښې وختی قدردان

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپیدا شي . او بیا هم هغه قدردان مو د بوډاتوب په وخت کښې د نظره ګزار کړي .

دې جینئ او دغه مشرې مور ئې شوځله په دې باندې غور کړې وو. یو ځل ئې ارشد ته هم ذکر کړې وو. که چیرته څوک د دولت والا ئې په عزت سره په نکاح کړي نو لُور به ئې د ټول عمر د پاره دا کار پریږدي . خو دلته خو دولت نه میلاویدو . صرف په عزت سره د خور جوړولو د پاره دوه رونړه راغلي وو.

مشرې اُووئې .

" زهٔ دا نهٔ منم چې ستا په شان یو بدمعاش ځما لور خپله خور جوړه کړي او عزت به ورکړي . او دا دوئم چې تاسره راغلې دې . پته نشته چې دا هم لا څوک دې . د دهٔ په نیت باندې زهٔ څهٔ پوهیږم ."

ساجد اُووئې . " زهٔ درته د پولیس د لوئې لوئې افسرانو ضمانت درکولې شم . که چیرته تاته د قانون حفاظت ملاؤ شي . نو آیا تهٔ به ځما خور ته ځما په کور کښې د عزت ژوند تیرولو اجازت ورکړې ؟ "

مشرې اُووئې ." پولیس والا بدمعاشانو سره په دهوکو کښې مِلاؤ

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. کـه چيـرته دوئ ايمانداره شول نو په دې ښار کښې به دومره بد معاشي اُونشي .“

”ټول پوليس والا يو شان نهٔ وي . څما د علاقې تهانيدار ، د سنټرل جيـل جيـلـر . او ډي ائـي جـي صـاحب به ستا د لور د حفاظت ذمه واري واخـلي. او د داسې لوئې افسرانو نه دبې ايمانئ طمع مهٔ کوه . زهٔ بـه تـا دوئ لـه بـوځمه . دوئ سره ملاوېدو نه پس او دوئ سره خبرو کولو نه پس به تاته څما د رښتين والئ يقين درشي “

جيـنـئ مشـرې تـه رانزدې شوه او وئې وئيل .” مورې کله چې يو شـريف سړې د دومره لوئې خلقو نومونه اخلي نو په هغوئ بهروسه کـول پـکـار دی . سبـاء د دوئ سره لاړه شه او د پوليس لوئې افسر سـره پـخـپـلـه خبره اُوکړه . ما به په زړهٔ کښې دُعاګانې غوښتې لکه چې اُوس څما دُعاګانې قبليږی .“

سـاجـد خپـلـې خـور جـوړولو والا جينئ ته ډير په مينه کتل . او په سـوچ کښـې شـو چـې انسـان د زړهٔ د صداقت نه کوشش کوی نو د هـغـهٔ کوشش هيڅکله هم بې ځايه نهٔ ځي . د ايرونه لعل او د ډيران نه ګل هم حاصليدې شي .

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک هـم د ګـنـدګـۍ نـه د پاکوالی سوچ نشی کولې . خو کامیاب کـوشـش وائـی چـی پـاکـوالې هلته هم شته دې . په عام ژوند کښې داسې خبرې هسې قیصې ښکاری . خو دا قیصې وغیره هم څمونږ د ژوند ولاړ او ګرځیندہ کردارونو دوجې مکمل کیږی .

پـه دې شپه د ساجد مور پلار ته یو بل باجوړې څوئې مِلاؤ شو او په دوئمه ورځ ورته د یوې لور د مِلاویدو طمع وه .

ساجد مشره ځان سره کړې وه او د ډی آئی جی دفتر ته تللی وو. او دوئ ټولو د هغهٔ د راتللو انتظار کولو .

ګل باز خان د ارشد نه پوښتنه اُوکړه .

"څویه تهٔ دغه جینۍ د کوم وخت نه پیژنې . د دې نوم څهٔ دې ؟ او د کوم ځائې اوسیدونکې ده ؟"

ارشـد ورتـه اُووئـې ." د دې نوم نازو دې او دوئ د سوات نه دلته راغلی دی . "

ګل باز خان په خندا شو او وئې وئیل . "مونږ خو یو عجیبه غوندې خـاندان جوړوو. تهٔ باجوړې . زهٔ آفریدې یم . مور دې افغانۍ ده. سـاجـد مـومـند دې او نازو سواتۍ ده . ځماپه خیال چی په هیڅ یو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـور کښې به د دومره علاقو خلق یو ځائې نه وی . حالانکه پیښور غـونـډې وړوکی کور کښې ټول اُوسیږی . خو د یو بل نه بیل بیل . او د یو بل نه ناخبره .....''

ګـلالـۍ اُووئې :'' خو زمونږ دا عجیبه غونډې خاندان به ځوک اُونهٔ مـنـی . ټـول بـه وائـی . چې مور ئې افغانۍ . پلار ئې آفریدې . یو ځوئې مومند یو ځوئې باجوړې او لور سواتۍ دا څنګه کیدې شی .''

ګل باز خان اُووئې . '' داسې پوښتنې صرف کم عقلان کوی . مونږ ټـول د ژونـد حالاتو داسې کړی یو. او د یو بل نه ئې لرې کړی یو. مـونـږ ټـول پښتانهٔ یو . دا بیله خبره ده چې په ژبو کښې مو لږ لږ فرق دې . ولې ده خو ټوله یوه پښتو کنه .''

هـلـتـه د سـاجـد تـقـدیـر ډیـر خـونـدور وو. حالات په تیزۍ سره بـدلیـدل د غـرمـې نـازو د لـور پـه شـکل کښې کورته راغله نو یو وړوکـې خـاندان مکمل شو. صرف د یوې ښځې کمې پاتې وو. هم د دې دپاره خو دا دومره هلې ځلې اُوشولې . د محلې خلقو به ډیر په حیـرانتیـا سره دې کور ته کتل . چیرته چې مخکښې اُورانه اُورانی وه . پـه هـغـه ځـائـې کښـې د ټول عمر د پاره د خندیدو والا خلقو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



جـنت جوړ شوي وو. د ساجد د وادهٔ دپاره ډير په ګرما ګرمۍ سره تيـارۍ شـروع وې . ګـلالـۍ او نـازو به د محلې کورونو کره تلې او خـلـقـو سـره بـه ئې تعلق جوړولو . په دې محله کښې بعضې داسې خـلـق هـم وو. چـې د چـا خوشحالي ئې هضميدې نشوه . اول خو به هغوئ د دوئ نه ځان ساتلو خو چې وسوسې ئې ډيرې شوې نو زنانه ئې دساجد دی کره د دې دپاره راغلې. چې دلته څهٔ نخره ده .

وادهٔ خو د ساجد دی کره کيدونکې وو . خو درز غوبل په ټوله محله کښـې وو . چـا لـه هـم خـوب نهٔ ورتلو. د شپې تر ناوخته پورې به سړی په بيټکونو کښې ناست وو. د ښځو محفلونه به بيل لګيدل . چا بـه وئيـل ."ساجد چې کله دلته کور جوړ کړې وو . هغه وخت د دهٔ مـور پـلار مـړهٔ شـوی وو دا به ئې وئيل . اُوس ئې مور پلار د کوم قبر نه راويستل ؟"

دمـحـلې يو کس اُووې "رور او خور ئې هم راپيدا شول . او د مزې خبـره دا ده چې د يو شکل د بل سره نهٔ مِلاويږي . رنګونه هم بدل بـدل دی . د خبـرو لهجې هـم بـدلـې بـدلې دی . بالکل چړيا ګهر ښکاري ."

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بې غیرتـه بـدمعـاش دې . او په خپل کور کښې ئې بدمعاشان ساتلی دی او اُوس چرته د عزت داره کورنۍ نه جینۍ وادۀ وی .
دویـم کـس اُووئـې ." د ساجـد مور وئیلې چی چیرته د سیدانو په کورنۍ کښې رشته شوې ده ."
دریـم کـس اُووئـې ."عـجیبـه ده د سیـدانـو جیـنکۍ خو پـه نورو خاندانونو کښې نه ودیږی . نو بیا دا رشته څنګه اُوشوه ."
چیـرتـه چی بـې ایـمان اُوسیږی هم هلته ایمانداره هم اُوسیږی یو ایـمانـداره کس اُووئې . "دا خو ډیر د خوشحالۍ خبره ده چی سید خـانـدان او یـوعام خاندان په خپلو کښې یو ځائې کیږی . خاندانی شـان او شـوکـت تـر ډیـره وختـه پورې نه وی . په ډیر ښۀ او نیکو خـانـدانـونـو کښـې هـم کله کله غلۀ او بدمعاشان پیدا کیږی . او داسې جیـنـکۍ هـم پیدا کیږی چی یاران ئې وی . که چیرته یو د سیدانو کورنۍ ساجد سره
رشتـه کـوی نـو دا د سیـدانـو ډیر اعلٰی صفت دې . اوداهم ده چی ساجد د عزت ژوند تیرول غواړی. او چی په دې حالت کښې مونږ سـاجـد راغـورزوو نو دا به زمونږ ډیر زیات خراب او د بې ایمانۍ

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفت وي. "

رښتيـا او صحيـح خبرو والا ډير کم خلق وي . او اکثر د دروغو په شـور کښې د هغهٔ آواز اُورک شي . ساجد په دې بأندې پوهه وو چې د محـلـې د يـو سر نه واخله تر بل سره پورې صرف د دهٔ په ذات بـأنـدې بـحثونه کيږي او دا ډيرې د خوشحالئ خبرې وې . که تأزه خأوند وي . نوې کور وي . نوې حکومت وي . خلق هر يو نوې څيز په آسأنتيا سره نه قبلوي پوزه نچوړي کوي يئې او تنقيدونه کوي . خـو بيا په مزا مزا دا پخپله قبلوي. که هغه په زور وي . يا په رضا سره وي.

نأزو يو ځل زړهٔ ماتې د وجې اُووئې .

"لالا جـأنـه . مـونـږ بـه په محله کښې څنګه اُوسيږو . دلته خو ټول زمونږ خلاف خبرې کوي ."

سـاجـد جـواب ورکـړو ." نـأزو! تهٔ چې کومې محلې ته لاړه شې نو تأته به په مزا مزا پخپله معلومه شي . چې هر ځائې کښې د يو کور والا د بـل کـور خـلاف څـهٔ نـاڅـهٔ ضرور وائي . په مخأمخ به خوږې خبرې کوي . او

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې واپس کور ته راشي نو بيا به په طنز سره وائي چې د درې زرو ټي وي ئې وو. مونږ کره خو د دولس زرو روپو ټي وي دې . "
نـازو اُووئې . او او لالا جانه . داسې خبرې خو زۀ اکثر آورمه . دغه زمـونـږ مـحـله کښې چې بخاري صاحب اُوسيږي د هغۀ لور د مرزا صاحب لور پسې اکثر خبرې کوي . او د مرزا صاحب لور د بخاري صاحب لور پسې خبرې کوي . او چې کله يو بل ته مخامخ شي . نو زر يـو بـل تـه ورغـاړې ووځي او په مينه محبت سره خبرې شروع کـړي او بيا په خبرو خبرو کښې د محلې د نورو جينکو عيبونه لټوي . دلته په مخامخ يو څۀ او شا په شا بل څۀ کيږي . دا څنګه دنياده . ؟"

ساجـد اُووې"مـونـږ بـه هم په دې دنيا کښې ځان له کور او عزت جـوړوو. او زمـونږ عزت جوړيږي . د دنيا د ستور مطابق شاپه شا زمـونـږ بـد وائيـلې کيږي . خو مخامخ دا خلق اُوس مونږ سره په عزت کښې مِلاويږي . دا هم داسې دنيا ده . ځما خوږې خُورې ."

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

د عزت ژوند تیرولو په سفر کښې پینځلس ورځې تیرې شوې .
دساجد وادهٔ تیار شواوساجد چې د وادهٔ په جوړه کښې کله د کور نه بهر راوتلو . نو د محلې چې څومره خلق په جنج کښې شریک شوی وو. ټـول د دغه سیدانو کورنۍ په خیال کښې وو. چیرته نه چې یوه ناوې د ګل باز خان کورته د اینګور په شکل کښې راوستل وو. هغه ځائې کښې د نکاح پروګرام ډیر ساده وو. ترڅو چې د وادهٔ رسمونه پـوره کیدل . تر هغه وخته پورې د ساجد شریفو جنجیانو د بلقیس د محلې خلقو نه معلومات حاصلول .
هـغوی ته په دې معلومیدو باندې ډیر افسوس اُوشو چې د بلقیس پـلار واقعی د یو لوئې سید خاندان سره تعلق لرلو. ټولې محلې دا ګواهی کوله چې بلقیس د یو عزت داره پلار لور ده .
سـاجـد چې په دې ورځ بلقیس حاصل کړه نو باقی ټوله دنیا تـرینه هیـره شـوه . کـمـره ئې لکه دناوې غوندې تیاره شوې وه . د دهٔ دا

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال وو چې ناوې به نیغه هم دې کمرې ته راولم . خو چې کمرې ته راورسیدل نو په کمره کښې څه کار پاتې وو. د دهٔ رور ، خور او د محلې نورو جینکو به په نمبر نمبر بنارسئ اُوچتوله او ناوې به ئې کتله . د خپل دستور مطابق دمحلې خلقو به ئې مخامخ تعریف کولو.

او چې شا په شا به شول نو پوزه به ئې نچوړې کړه او څهٔ نه څهٔ عیب به

ئې پکښې یادولو.

ساجد په دې وخت کښې د کور نه بهر په دروازه بانديې یوه تختئ لګوله . چې په هغې باندې غټ غټ لیکل شوی وو" جونګړه " اُوس د دهٔ یو کور مکمل شوې وو او څهٔ موده پس به دا کور د دهٔ د اولاد نه ډک شی . د انسان په سترګو کښې چې څومره خوبونه وی . په هغې کښې بعضې پوره شی او بعضو باندې د دنیا د خلقو نظر شی او په کاڼړو ئې ورله اُوولی چې مات شی .

په دې وخت کښې چا د کاڼړی ګزار اُوکړو. او په کاڼړی باندې هغه د "جونګړه " والا تختئ ولګیده . ساجد چې په شا باندې اُوکتل نو

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیرته د بلې علاقې بدمعاشان وو چې په لاس کښې چا چاقو او چا لرګې نیولی وو.

یو بدمعاش اُووئې .

"دلتـه چـې کـوم ارشـد نومې کس اُوسیږی هغه زمونږ د علاقې بد معاش دې . هغه ستا رور څنګه جوړ شو.؟"

ساجد ورته په جواب کښې اُووئې .

" که جهګړه نه کوې نو ته هم رور جوړې دې شې ."

"خبرې مهٔ زیاتوه . دوئم بدمعاش اُووئې . "مونږ نازو پیژنو هغه یوه ډمه ده ."

ارشد یوه غټه چاړه په لاس راغلو او په غصه کښې ئې اُووئې .

"کـه کـوم یـو بـې غیـرته څما خور بدنامه کړه نوهم دلته به ئې ختم کړم."

ساجد د هغهٔ لاس اُونیولو."ارشده چاړهٔ اُوغورزوه . مونږ به جهګړه نـهٔ کـوو. او پـه دې بـانـدې پوهه شه چې دا د بلې علاقې والا لکه د غیـرت مـنـدو په مونږ باندې طنزونه کوی او محلې والا لکه د بې غیرتو زمونږ تماشه کوی . ځکه چې دا بزدله دی . زمونږ هیڅ هم

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشې کولې . د دې د وجې ئې د بل ځائې امداد راغوښتې دې .“
د محلې يو شريف سړی اُووئې .” ساجد ټهيک وائی. دا بدمعاشان څوک دی ؟ او د کوم ځائې نه راغلی دی .“
” د هـر ځائې نه چې راغلی دی .“ بل سړی اُووئې .” بدمعاشانو له هـم بـدمـعاشان راځی . مونږ له د دوې په مينځ کښې راتلل ندی پکار.“
ولې نۀ دی پکار.؟ هم هغه شريف سړی اُووئې . دا د محلې د عزت خبـره ده . کـه چيـرتـه پـه مـونـږ کښې د چا د ساجد نه ګيله وی. نومونږ به په خپلو کښې جرګه اُوکړو او هغه ګيلې به ختمې کړو .“
د دۀ داسې روغـې خبـرې آوريـدو سـره يـو بدمعاش دۀ له په مخ سپيړه ورکړه .
ارشـد پـه هـغه بدمعاش راټوپ کړې . او يو طرف ته ئې راخکلو. بل په ارشد باندې رامنډه کړه نو ساجد هم مجبوره شو او په جنګ کښـې شـامـل شـو. د مـحلې خلق يو خواه بل خواه تښتيدل . ښځو کهـړکئ کهولاؤ کړې او تماشه ئې کوله . د ارشد په لاس کښې چاړۀ وه بدمعاشان به ورله د يرې نۀ راتلل . ساجد يوازې وو. بدن نه

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئـې ويـنـو دارې وهـلـې. هـغه به بدمعاشان وهل او هم به ئې چغې وهلې .

"ځـئ لاړ شئ د دې ځائې نه ......دا ځما کور دې . زۀ به تر آخرى سـلـګـئ پورې د دې د حفاظت دپاره جنګيږم . اې خلقو تاسو ته دا ګيـلـه ولـې ده چې ځـمـا روستـو ژوند خراب وو. تاسو زمونږ دې حـالـت تـه اوګورئ چې د عزت ژوند د پاره څنګه ستاسود لاسه په وينوکښې ډوب يو."

په دې وخت کښې دۀ يو بدمعاش ته سوک ورکړو او په شائې کړو. نـو بـل بـدمعاش د شانه راغلو او په سرئې په ډانګې اُووهلو. په دۀ باندې چکر راغلو او د جونګړې په دروازه کښې راپريوتو. ارشد زر رامنډه

کـړه او هـغه بدمعاش ئې په چاړۀ اُووهلو. او بيا په بل پسې ورتاؤ شـولـو. هـغـه بـدمـعـاش زر پـه شـا اُوتښتيدو او ورپسې نور هم اُوتښتيـدل . ګـل بـاز خـان ورپسـې د محلې تر آخرى سره پورې کـوتک پـه لاس مـنـډې ووهـلې او هم دغه شان درې واړو پلار او ځامنو ډير په بهادرئ سره مقابله اُوکړه او ميدان ئې صفا کړو .

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساجـد پـه زمزمبولی په مزه مزه پاسيدو . دَ کور دَ مخې دَ ور په درشـل اودريـدو ، پــه يـو لاس ئـی دُرشل اونيوه او بل لاس ئی دَ محلې خلقو ته اوخوځوو او وې وئيل : اې زما دَ محلې پښتنو! تاسو اوليـدل چې زما په کور دشمنانو حمله اوکړه او حمله ئې څکه اوکړه چـه ستـاسـو لاس وو ورسـره .څومره دَ افسوس خبره ده چې تاسو زمـا دَ بې عزتئ د پاره ، دَ خپلې محلې دَ يو ورور دَ بربادئ دَ پاره دَ بهـر نـه زمـا دشـمنان راوستل او زۀ ئې په کور بې عزته کړم . دا ولې ؟ اخرزما څۀ قصور ، څۀ ګناه او څۀ جرم دې ؟

تـاسـو ټـولـو تـه پته ده چه زما په دې دومره لويه دنيا کښې څوک وو؟ . پـه معاشره کښې زما هيڅ حيثيت او عزت نۀ کيدو. دَ خپل حيثيت او عـزت جوړولو دَ پاره يوه بې لارې بوډئ او يو بدکرداره بوډا مِ خپل مور پلار جوړ کړل . هغوئ له مِ دَ يو تابعدار څوی مينه ورکـړه چـې پـه بدله کښې هغوی ماله دَ مور پلار مينه راکړه . يو بـد مـعـاش او وران کـار څـوان مِ ورور کړو او هغه مِ نيغې اوسمې لارې ته د راوستو کوششونه اُوکړل. يوه ډمه مِ خور کړه او دَ حيا په

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـوپـټه کښې مِ پټه کړه . چې دا ټول دَ بدو نه توبه ګار شول او ټول پـه روزګـار کـړي شـو نو بيا مِ يوه داسې جينۍ وادۀ کړه چانه چې دَ وادۀ پـــه ړومبۍ شپـــه خپـل خـاونـد کالی او روپۍ لوټلو نـه پـس تښتيـدلـې وو. هـغـه نـاوې چې ټوله شپه ئی دَ خپل خاوند دَ راتلو قدمونه شمارل خو هغه رانغې نو .

اې زمـا دَ مـحـلـې پښتـنو ! ما دَ معاشرې ټول هغه کسان راغونډ کـړل او دَ مـور ، پـلار ، رور او خـور په مزی مِ اوتړل کوم چی زما غـونـډې بـې اسـرې ، بې حيثيته او بې وسه وو ما هغوی ته دَ ژوند تيـرولـو يـوه صحی لاره نۀ صرف په ګوته کړه بلکه هغوی ټول مِ دَ ګوتې نه اونيول او په

پـاپلی مِ هغوی دَ قدم اوچتولو جوګه کړل . آيا دا جرم دې ؟ ګناه ده ؟کـه دا جـرم وی ، که دا ګناه وی نو زۀ به چرې هم دې نه توبه ګار نشـم . زما کور يو مثالی کور دې . زما جونګړه يوه مثالی جونګړه ده . راځـئ چی ټول په شريکه يوه داسې دنيا را جوړه کړو چې هغې کښـی دَ مـعـاشرې هر يو بې وسه او پر يوتی کس ته پوره پوره حق حاصل شی او چې هغی کښی دَ نفرتونو بوئين نه وی بلکه اخلاص

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی ، میـنـه وی ، ایثـار او همدردی وی چی هغې کښې دَ قومیت ، قبیـلـې او ذات پـات د نفرت نظریې نهٔ وی او چې کله هر یو کور کښې دا سې مینه محبت شروع شی نو بیا به ټول وطن یو مُټې او یو آواز وی . دا عینِ پښتو اودین اسلام دې

بـلـقیـس دنـاوې په سره جوړه کښې دَ پړدې شاته هغهٔ سره په خوا کښـی جخته ولاړه وه په خپلو سرو منګلو او سره ښارسۀ ئې دَ هغهٔ د بـدن سـره وینه اوچوله او چې کله هغهٔ خپل تقریر ختم کړو نو دَ لاس نه ئې اونیوو ،او کور ته ئې دننه کړو .

☆☆☆☆

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایاز الله ترکزے




سلیم راز

دیوی معاشری وګړي د آدب په ذریعه ډیوبل په تجربو کښی شاملیږی او شعور ترے اخلی. په یو مخصوص دور او یوه مخصوصه علاقه کښی ڎ اُوسیدونکو یو بل سره تعلق رشته، ربط ، ضبط، او دژوند تیرولو عمل معاشرتی ژوند بللے شی چه په معا شرهاوسماج یاسماجی وجود باندے یادیږی ڎ اوسیدونکوسماجی شعور ئی عکاسیکوی. دغه شان سماجی شعور دانسانی خیالاتو، تصوراتو، افکارو او نظریاتو نوم دے یعنی سیاسی ،معاشی ،معاشرتی،قانونی مذهبی او فلسفیانه افکار،سائینس، ادب او نور علوم فنون دسماجی شعور مختلف شکلونه دی او دخپل دور داظهار وسیلی یا ذریعی دی. چونکه ادب په معاشرتی ژوند کښی پیدا کیږی او دمعاشری افراد یی تخلیق کوی ځکه نو ژوند او معاشری سره ډیر ژور قریبی تعلق لری او ځکه دمعاشری نه بیلیدے نهٔ شی.اوځکه شاعر ادیب دقوم ذهن ژبه اونظر ګنړلے او بللے شی. اوځکه ددوی نه په ځائے دا طمع کیدے شی چه ڎ ملک او قوم اجتماعی مفادات عصری رجحانات او قومی ترجیحات بایئد په نظر کښی اوساتی او دخپل فکر او قلم په ذریعه دخلقو ذهنی تربیت او فکری رهنمائی وکړی او په معاشرتی ژوند کښی خپل منصبی کردار ادا کړی.

سلیم راز

اعراف پرنٹرز
091-2580006
0312-5945568
محلہ جنگی پشاور
aaraf1976@yahoo.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**